محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

۱۰۱

# محسن تفسير

په پښتو

## ۱۰۱ ـ د «قارعه» سورت

ژباړه او څېړنه :

احمد حسين «عنايت»

د قارعه سورت تشريح

ژباړه او څېړنه:

احمد حسين عنايت

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوراند او لورين الله په نامه

سورةالقارعه

## د قارعه سورت (۱۰۱)

د «قارعه» سورت مکي دی (۱۱) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې يې شمېره (۱۰۱) ده. ددې سورت په مکي والي کې هيڅ اختلاف نشته او له مضمون څخه يې په ښکاره توګه برېښي چې دا هم په مکه کې د نازل شوو لومړنيو پَير له سورتونو څخه دی.

### مخکيني سورت سره يې اړيکه:

د تلاوت په لړ کې له دې څخه مخکينی سورت «عاديات» دی، او له مخکيني سورت سره ددې سورت بنسټيز ورته والی د قيامت په موضوع کې دی چې هر دواړه سورتونه ورته له بېلوبېلو اړخونو او ګوټونو په بېله بېله طريقه پاملرنه لري.

د قارعه سورت، له مخکيني سورت (عاديات) سره، له قبر څخه د انسانانو د راپورته کېدلو او د کړنو او اعمالو د جزاء په موضوع کې ورته والی او شراکت لري او ګواکې په يو ډول د هغې تسلسل او پرله پسې ګڼل کيږي :

د عاديات په سورت کې له دنيايي مکتسبه خصلتونو او اسرارو له تحقق، برسېره کېدو او حاصلېدو څخه په آخرت کې خبره کوي «وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ﴿۱۰﴾»

او د قارعه په سورت کې د هغې له وزن کولو، سنجش او جزاء څخه ښکاره کوي. « فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ﴿۶﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ ﴿۷﴾.»

له دې سره سره ظاهري ورته والی يې د زلزال له سورت سره ډېرتر او مشترکات يې برېښنده دي؛ له هغې جملې: له قبرونو څخه په روانېدو کې:

زلزال : يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ﴿۶﴾

قارعه : يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ ﴿۴﴾

او د کړنو اوعملونو په دروندوالي او سپکوالي کې:

زلزال: فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴿۷﴾. وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴿۸﴾

قارعه: فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ﴿۶﴾..... وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ﴿۸﴾....

البته که په قرآن کې د سورتونو د ځای پر ځای کېدلو ترتيب يوازې د شريکو بنو او وجهو تابع وای، بنسايي د قارعه سورت، د زلزال سورت پسې ځای نيولی وای. خو له کومه ځايه چې دا

مسئله مختلف اړخونه او ظريفي پېچلتياوي لري، لازمه ده چې د اشتراک له بنو پرته د سورتونو اصلي محور هم په پام کې ونيول شي. داسې برېښي چې د عاديات سورت عالماً او عامداً، د يوه حکمت پر بنا د داسې دوو ورته سورتونو په منځ کې چې د قيامت ډاروونکو او هولناکو پېښو ته پاملرنه لري، ځای پر ځای شوی دی؛ ددې لپاره چې د انسان موقعيت ته دداسې سختې او ستونزمنې راتلونکې په اړه انذار او ګواښنه وکړي. انسان سره له دې چې په خپلو مسئلو او دنيوي ګټو کې ډېر جدي او هڅاند دی، د خپل نهايي سرليک او هاغو خطرونو په نسبت چې د هغه راتلونکې ګواښي او تهديدوي، او هم د خپل پالونکي څښتن په نسبت ډېر يخ او لټ دی، غافل او بې خبره له دې چې هاغه مهال چې قبرونه پاخول شي او هاغه څه چې په سينو کې دي خپل محصول ورکړي، هر څوک د خپلو کړنو د پايلې او مېوې د درونداوالي پر حساب جزا ويني. په حقيقت کې دريو سورتونو زلزال، عاديات، او قارعه ته ځرخنده پاملرنه، په آخرت کې د انسان د ابدي سرليک محور څرګندوي:

د زلزال په سورت کې د «کړنو د مشاهدې» لپاره په ګډه وډه، نامنظمه، تيت او پرکه توګه د خلکو له روانېدو يادونه کوي ــ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ﴿۶﴾. په هغې ورځ چې خلک جلا جلا [بېل بېل او يو تر بله مختلف، د خاورو له قيده] د باندې راوځي، چې کړنې [او عملونه] يې ورته وروښودل شي.

د عاديات په سورت کې په قيامت کې له دننيو خصلتونو او پټو اسرارو د حاصلېدلو، برسېره کېدلو او تحقق موندلو ذکر کوي ـ أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ﴿۹﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ﴿۱۰﴾
آيا نه پوهيږي هاغه مهال چې تر خاورو لاندې پراته [له داسې کړنليک سره] را پاخول شي، [= پټ حقيقتونه څرګند شي]. او هاغه څه چې په سينو کې دي [= د انسان صفتونه او لاسته راوړنې] حاصل [او رابرسېره] شي [= د خپل عمل او کړنو حاصل او مېوه ورکړي].

او په پای کې د قارعه په سورت کې د انسانانو سرليک د هغوی د عملونو د درونداوالي پر حساب ټاکي.ـ فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ﴿۶﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ﴿۷﴾ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ﴿۸﴾ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ﴿۹﴾.
نو مګر د هغه چا چې د کړنو پله [=د ارزونې تله] درنه وي، نو دی به په ښه [او رضايت ښونکي] ژوند کې وي. او خو د هر چا چې د کړنو [د تلې] پله سپکه وي، نو هاويه [=اور] به يې پناه ځای وي.

## د سورت د مضمونونو محور:

**د قيامت نښې او اغېزې**: د دې سورت موضوع قيامت او آخرت دی. د سورت نوم او درې لومړنې آيتونه له ټکوونکي او ډبوونکې پېښې او يوې سترې بلا څخه يادونه کوي او د خلکو پاملرنه داسې يوې پېښې ته را اړوي چې هرو مرو پېښېږي او د هغه له پېښېدو سره، ټول ځيزونه حتا ځمکه او غرونه له خپلې

ناځاپي ضربې او درَز سره مات، رنګ، ويجاړ او ګډوډيږي. دا د تمبونې فشار او د چاودنې فوق العاده ځواک چې ډېر درانده ستوري او توکي د لامبوزنو ذرو په څېر په هوا کې خپروي، په دې سورت کې«قارعه» نومول شوی هاغه قارعه چې غرونه پکې لکه د ډانډس شوو او وهل شوو وړيو په څېر باديږي او چوي.

ددې سورت لومړنۍ نيمائی کې ددغې سترې پېښې له درندو او ډارونکو آغېزو او نښو څخه په ځمکه کې يادونه کوي او له ذکر سره يې په پيل کې ټول خلک بوګنولي او ګواښلي او وايي چې: ستره پېښه! څه ده هغه ستره پېښه؟ ته څه پوهيږې چې هاغه ستره پېښه څه ده؟ په داسې ډول چې اوريدونکي ته يې د يوې سترې ډارونکې او ويجاړوونکي پېښې د اوريدو له چمتو کولو سره سره، انسان ته د قيامت نقشه څرګندوي چې په دې توګه دويمه نيمه يې له دا ډول انقلاب او اووښتون وروسته د انسان له سرليکه حکايت کوي.

هېښوونکي دا چې په نورو سورتونو کې هم کله چې د قيامت موضوع او په آسمان او ځمکه کې د هغه له هېښوونکو او له تصوره پورته اووښتونو سره مطرح کيږي، ډېری يې دا دوه مطلبه يو د بل تر څنګ ځای پر ځای شوې دي. يا دا چې په طبيعت کې دا ډول خوځښت او اووښتون په عالم کې د حرکت او په بريښنده توګه د تلپاتو ښکارندو د اجل رسيدو د څرګندولو لپاره دی چې انسان را په خود شي او د خپل پايليک په اړه اند وکړي او له داسې احوال او چاپېريال سره د مخامخ کيدو لپاره اړوند چمتووالی ونيسي او خپل ځان برابر کړي. په دې ترتيب بشر د ستر عالَم د يوې کوچنۍ برخې په توګه په هاغو قوانينو کې شامليږي چې آسمانونه يې نغاړلي دي او د هغوی قيامت به د آسمانونو او ځمکې له قيامت سره هم مهالی او همغږی وي.

کوم نوم چې په دې سورت کې د «ټکونې» له ليد او اړخه پر هاغې سترې پېښې ايښوول شوی دی، د قيامت يوازينی نوم نه دی، په نورو سورتونو کې هم له راز راز اړخونو او ګوټونو څخه، پرې ډول ډول نومونه ايښوول شوي دي لکه «طامّه، صاخّه، حاقّه او غاشيه ...» د سپک وزرو پتنګانو [او پرپره کو] په څېر د انسان الوتنه چې په آسمان کې له يوې خوا بلې خوا ته ځي د بې وزنۍ په شرايطو کې د ځمکې د جاذبې له کمښت سره چې په ځمکه او آسمان کې له داسې اووښتونونو وروسته څرګنديږي، په نورو سورتونو کې هم په نظر کې

نېول شوي دي چې څرګنګوالي يې په نورو آيتونو کې له غور او تدبر سره د علم په مرسته د پوهې وړ ګرځي، سربېره پر دې، د غرونو ګډوډېدل او تيت او پرک کېدل، لکه په ډانډس او چوکه د وهل شوو وړيو په څېر، له دغې سترې ډارونکې او سهمناکې پېښې، يوه څنډه ده. په نورو سورتونو کې يې هم، د سپوږمۍ او لمر او ستورو سرليک څرګند کړى دى چې د دغو ټولو موردونو ټوليزه او جامع مطالعه د قيامت له صحنې ټوليز او مجموعي انځور ترسيموي.

او په پای کې يې د انسان د کړنو او چال چلند پايله څرګنده کړېده او ويلي يې دي؛ کله چې د آخرت په ورځ کې د خلکو د کړنو د حساب لپاره الهي عدالت قائم شي نو فيصله به يې پر دې بنياد وي چې که چا د نېکو کړنو وزن د بدو پر نسبت زيات وي نو دا ډول خلک به په هوسا او رضايت ښبونکي ژوند کې وي. او د چا چې د نېکو کړنو وزن د بدو پر وړاندې سپک وي دا ډول خلک به په ژوره کنده کې چې له اوره ډکه وي وغورځول شي.

---

## د سورت متن او د لغتونو ترجمه:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

الْقَارِعَةُ ﴿۱﴾ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۲﴾ وَ مَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۳﴾ يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ ﴿۴﴾ وَ تَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ ﴿۵﴾ فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ﴿۶﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ ﴿۷﴾ وَ أَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ﴿۸﴾ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ﴿۹﴾ وَ مَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ ﴿۱۰﴾ نَارٌ حَامِيَةٌ ﴿۱۱﴾

الْقَارِعَةُ = ټکوونکي، وهونکي، ځپنده [پېښه]، ستره پېښه ـ مَا= څه ده؟، څه ډول ده؟ ـ مَا أَدْرَاكَ= ته څه پوهېږې؟، څه څيز به تا پوه کړي؟ـ يَوْمَ = ورځ، قيامت، د مهال هغه پړاو چې په لومړني نفخه [پُوکي] پيلېږي او د خلکو تر منځ تر نياو وروسته پای ته رسيږي ـ الْفَرَاشِ = پتنګان، پرپره کي ـ الْمَبْثُوثِ = خپاره، تيت او پرک، خپاره واره، جلا جلا، خپرول، منتشر کول ـ الْجِبَالُ ـ غرونه ـ الْعِهْنِ = وړۍ، رنګينې وړۍ ـ الْمَنْفُوشِ = حلاجي شوي، ډانډس شوي، وربښل شوي، وهل شوي ـ ثَقُلَتْ ـ درانده ول، درانده شول ـ عِيشَةٍ= ژوند ـ رَاضِيَةٍ = رضايت ښبونکی، سوکاله، خوښند، هاغه ژوند چې درلودونکی ترې خوښ وي ـ خَفَّتْ = سپک شول. سپک وي، موخه يې د نيکيو سپکېدل ـ مَوَازِينُهُ = د ميزان جمع، د ارزونې پرتله، [دارزونې]تله يې ـ فَأُمُّهُ =پناه ځای يې،ټاټوبی، استوګنځی، مور يې ـ هَاوِيَةٌ = ژوره کنده،دځيزونو د سقوط او غورځېدو ځای، جهنم، دوزخ ـ مَاهِيَهْ=داستفهامي (ما)اود(هِيَ) دضميراود سکته(هْ)ترکيب دی دا څه څيز دی ـ نَارٌ=اور ـ حَامِيَةٌ = ډېر سوځوونکی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

الْقَارِعَةُ ﴿۱﴾

هاغه ټکوونکي [او ځپنده] پېښه[۱] [د دنيا د عمر په پای او د آخرت په درشل کې]؛

مَا الْقَارِعَةُ ﴿۲﴾

څه ده هاغه ټکوونکي [او ځپنده] پېښه؟

وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۳﴾

او کوم څيز [او کوم علم او نښانه] به تا آګاه کړي چې هاغه ټکوونکي [او ځپنده] پېښه څه ده؟[۲] [=پوهېدل پرهغې له بشري پوهې او درک څخه لېرې دي].

| الْقَارِعَةُ | مَا الْقَارِعَةُ | وَمَا أَدْرَاكَ | مَا الْقَارِعَةُ |
|---|---|---|---|
| ټکوونکي [ځپنده] | څه ده ټکوونکي [ځپنده پېښه] | او څه به پوه کړي تا | چې څه ده ټکوونکي [ځپنده] |

الْقَارِعَةُ. مَا الْقَارِعَةُ. وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ. «قارعة» يعني ټکول، يا د ټکولو لامل؛ لکه څنګه چې په عربي ژبه کې پلک [او څټک] ته «مِقْرَعْ» وايي. الْقَارِعَةُ. له لفظي ليده دا سې يوه جمله ده چې له يوې کليمې زيات څه نه لري. هاغه ټکوونکي. چې ورپسې همدا جمله د پوښتنې په توګه مطرح کېږي: مَا الْقَارِعَةُ څه ده هاغه ټکوونکي؟

«قارعه» د «قرع» له ريښې [د فرع پر وزن] په ټول ځواک او قدرت سره پر يو څيز وهلو او ټکولو ته وايي، په داسې ډول چې ډېر سخت غږ ترې پورته شي. نو ځکه قمچين او څټک ته هم له همدې مناسبته «مِقْرعة» او د ډېرو ماتولو پلک ته له همدې لامله «المقراع» وايي او پولادي تېزې توري او سخت او کلک ډال ته «قُرع» وايي. د «قرع الباب» معنا ده: هغه دروازه وټکوله، يا هغه دروازه ټک ټک کړه. لکه څنګه چې ميلمه نابېره دروازه ټکوي همدا راز قيامت هم ناڅاپه ټک ټک او ټکونه کوي. نو القارعه چې يوې راتلونکي ځانګړې د انتظار وړ پېښې ته اشاره ده او په تکرار راتلل يې د موضوع پر ستروالي دلالت کوي چې د دنيا په پای کې رامنځته کېږي او بيا ځلې تکرارول يې ددې لپاره دي چې دهغې ورځې په بيانولو کې نور هم زيات ډار، هيبت او دهشت پيدا کړي، او د توصيف د قرينې له مخې چې له ورپسې آيتونو څخه جوتېږي، د دنيا د تحول او بدلون او د آخرت د څرګندېدو لپاره پيليزه

ده. او ګواکې د دغو آيتونو د توصيف له ليده د قيامت د ځانګړو نومونو او صفتونو شخه ګڼل کېږي، سره له دې چې د قارعه لفظ هرې ډاروونکې پېښې او ستر دروند آفت ته ويل کېږي – د بېلګې په توګه عربان وايي: قَـرَعَتْهُمُ الْقَارِعَه، يعنې د پلانکۍ قبيلې يا قوم پر خلکو ستر آفت راغلی دی – اصولاً د کافرانو او د ناشکرانو د کړنو او چال چلن پر وړاندې هلاکوونکی او ويجاړوونکی غبرګون، چې پالونکې ښتن د خپلې پيرزوينې او حکمت له لامله، کوم مهلت چې آدم ته ورکړی، تر قيامته ځنډولی دی، هغه هم «قَارِعَـةٌ» [نکره] نومول شوی دی، چې هره ستونزمنه، کړېنتيزه، ناوړه او مصيبت باره پېښه نغاړي.

«...وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا تُصِيبُهُمْ بِمَا صَنَعُوا قَارِعَـةٌ أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِنْ دَارِهِمْ حَتَّى يَأْتِيَ وَعْدُ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ»[رعد۳۱ (۱۳:۳۱)]. او هاغو کسانو ته چې کفر يې کړی، د هغوی د کړنو له لامله به په تولو کې [سمدلاسه له هرې غلطۍ سره ټکوونکې [او ځپنده] مصيبت وررسېده يا به [خطر] د هغوی کورونو ته څېرمه راپرېواته؟ [چې غبرګون يې د الهي «مهلت» له لامله په دنيائي ژوند کې ځنډول کېږي] تر هاغې چې د الله وعده [او ژمنه] [=قيامت] راورسيږي، په رښتيا چې الله د خپلې ژمنې پر خلاف نه کوي.

خو په دې سورت کې د «القارعه» فاعل اسم [د معرفه له الف او لام سره]، د قيامت د ظهور په درشل کې ټکوونکې، درزوونکې او ډبوونکې سترې نغاړونکې پېښې او بلا ته اشاره لري. د قيامت په درشل کې القارعه[ضربه، ټکونه او ډبونه] زموږ د چاپېريال د ځمکې او آسمان د راتلونکې چاودنې لپاره ټولېز او نغاړونکی وصف دی چې د ډېرې سختې، سترې او له تصوره لېرې پېښې او بلا ښکارندوی دی. په قرآن کې راغلې چې د ثمود او عاد قومونو «قارعه» دروغ وګڼله او د طبيعت له ټکوونکې غبرګون – «طاغيه» او «عاتيه» – سره هلاک شول. كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌ بِالْقَارِعَةِ. فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا بِالطَّاغِيَةِ. وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ. [حاقه۴(۶۹:۴) تر۶].

«ثمود» او «عاد» [قومونو دا ډول] ټکوونکې [او ځپنده پېښه] دروغ وګڼله. نو د ثمود [قوم]، د طاغيه په توسه [له زلزلې سره مل د سخت تندر او برېښنا له لامله] هلاک [اونښت] شول. او د"عاد" قوم په ځورنده، تېزې، سړې سيلۍ[چې له بريده تيره ډېره سخته او ځپونکې وه] هلاك كړای شول.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ. ته څه پوهيږې چې هاغه ټکوونکی څه شیز دی؟. دا دريمه جمله چې دريم آيت دی د دويم آيت ځواب دی ته څه پوهيږې چې قارعه څه شيز دی! دا ددې په څبر دی چې يو چاته ووايي: پوښتنه مکوه يعنې مسئله تر دې ډېره ستره، اوچته او مهمتره ده چې وکولی شې هغه د وصف او کلېمو په توسه بيان کړی شي. يعنې داسې يوه موضوع چې له انساني بريدونو ډېره اوچته ده او انسان ته د بيانولو وړ نه ده، ځکه چې انسان د هغې د پوهېدلو لپاره ظرفيّت نلري. معمولاً کومې پوښتنې چې انسان يې د شيزونو په اړه کوي د هاغو مجهولاتو پر نسبت چې د شيزونو په اړه يې لري ډول ډول دي، په ټولو کې درې پوښتنې چې نورې ټولې پوښتنې په ځان کې نغاړي او دا درې پوښتنې د ټولو پوښتنو لپاره بنسټ جوړوي؛ يوه دا چې څه شيز دی؟ بله دا چې څنګه دی؟ او په پای کې دا چې ولې دی؟ انسان چون يو عقلمن، انديال او متفکر موجود دی نو قهراً د پوهېدو لپاره ډول ډول اړتياوې پيدا کوي او انسان تل غواړي د شيزونو په حقيقت ځان پوه کړي او دا يې د انسانيت او عقلانيت د کمال نښه ده نو ځکه تل د شيزونو په اړه دا پوښتنه کوي چې څه شيز دی؟ يعنې انسان د شيزونو د څه شيزوالي په اړه غواړي پوه شي خو ټول شيزونه د تعريف وړ نه دي يعنې د ډېريو شيزونو د څه شيزوالي په اړه شوني ده چې پوښتنه وشي او ځواب يې واوري؛ [خو د ځينو شيزونو په اړه ناشوني ده،] ځکه چې تعريفول په حقيقت کې يو ډول د هاغه شيز تحديدول او د هغه لپاره د بريدونو ټاکل دي. که د يو شيز د بريدونه ټاکل د انسان لپاره له امکانه وتلي او ناشوني وي نو دا پوښتنه ځواب نلري؛ انسان ته وايي ته يې د څه شيزوالي په اړه پوښتنه مکوه؛ يعنې دا له دې پورته دی چې تاته د هغه بريدونه وټاکو او ستا عقل ورته ورسيږي.

قرآن، لومړی يو کليمه ای جمله وايي: الْقَارِعَةُ ټکوونکي، هاغه ټکوونکي. له دې ډول مطرح کولو څخه يې موخه داده چې دا پوښتنه وپاروي. کله چې يو ځل مطرح شي: ټکوونکي، يا هاغه ټکوونکي، هرو مرو دا پوښتنه په ذهن کې مطرح کېږي او پخپله په وحی کې يې هم د خلکو له لورې مطرح کړې [يعنې پخپله هم موضوع مطرح کوي، او هم ورپسې هماغه د پوښتنې په بڼه په فطري توګه په خلکو کې تر پاروني وروسته ، د بشر د عقلاني فطرت له لورې مطرح کوي]: مَا الْقَارِعَةُ. قارعه څه شيز دی؟ ځواب ورکوي: وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ. يعنې اوچتتر او ډېر پورته له دې

دی چې حدود او بريدونه يې ستاسو لپاره وټاکل شي. يعنې د بشر ذهنونه، د بشر اند او فکر، د بشر ظرفيت او ډګر له دې ډېر کوچنی دی چې وکړلی شي حدود او بريدونه يې د بشر لپاره وټاکل شي.

د «ما ادريک» او «ما يدريک» جمله چې ۱۶ ځله په قرآن کې تکرار شوې ده، په ټوله کې د طبيعت او له طبيعت اخوا [ماوراءالطبيعة] او يا داسې پېچلو علمي مسئلو پورې اړوند ده چې درک او پوهه يې له بشري پوهې او دانش سره شوني نه وه او نه ده. لکه: ما ادريک: ما يوم الدين، مايوم الفصل، ماالقارعه، ما الحطمه، ماالحاقه، ما سجين، ما عليون، ما الطارق، ما العقبه، ما ليلة القدر، ما هيه[هاوية]، ما يدريک لعل الساعة، ما يدريک لعله يتزكّى ...

مخکې مو د قدر سورت په تشريح کې وکتل، چې هلته هم ويل شوي دي: وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ. [قدر ۲ (۹۷:۲)][او ته څه پوهېږې چې د قدر شپه څه ده؟] مخکې مو دا هم ويلي ول چې ټولې هاغه پديدې او ښکارندې چې درک او پوهه يې مشکله او ستونزمنه ده، ستونزمن والی يې ددې لپاره دی چې انسان د هغوی د پېژندنې ډګر او بنسټ نه لري چې پرې پوه شي. مخکې مو يو مثال ورکړی وو چې که شپږ کلن کوچنی ماشوم له تاسو، يوه داسې پوښتنه وکړي چې د هغې د پوهېدو لپاره شل دېرش کاله درس اړين دی، نو تاسو هغه ته واياست:

وَمَا أَدْرَاكَ؟ ته څه پوهېږې؟ يعنې څه ډول غواړې هغه درک کړې؟ نو پر دې بنا ددغې ټکوونکې پېښې په اړه هم بايد وويل شي چې موږ لا تر اوسه د هغې د پوهېدو او درک کولو لپاره مقدمات، ظرفيّت او پيلېز بنسټونه نلرو او موږ ته روښانه نه دي. يوازې پوهېږو يوه داسې چاودنه ده چې په ډېر شدت او سختۍ هر څه په ټوليزه توګه ټکوي، ځپي او درز ورکوي. فرض کړئ لکه د هسته اي بمب د چاودنې په څېر چې هر څيز ټکوي، الوزوي او په ذرو يې بدلوي، خو په نجومي مقياس کې [په ستوريزه ارزونه او پرتله کې]؛ په يو ډېر فوق العاده ستر او عظيم مقياس کې چې حتا لمر هم بايد د هغې وړه برخه وګڼو، آيا اټکل کولی شئ چې څه به پېښ شي.

ددې سورت نوم او پيلېز آيتونه، په قرآن کې د نورو سورتونو نومونه او د هغوی پيلېز آيتونه ذهن ته راوړي مثلاً د «حاقه» په نامه يو سورت دی چې هغه هم د قيامت په

اړه دی: «الْحَاقَّةُ. مَا الْحَاقَّةُ. وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحَاقَّةُ» [حاقه۱ (۶۹:۱)تر۳] «حاقة» يعنې هاغه څيز چې تحقق مومي او حتمي دی ثابت او ټيکاو دی. نو پر دې بنا په کوم ځای کې يې چې د قيامت پېښې ته «حاقه» ويلی، يوه داسې رامخته کېدونکې پېښه ده چې سل په سلو کې تحقق مومي، او په پېښېدو کې يې کوم ترديد او شک نشته او «حق» ده او دلته په دې سورت کې هم د ټکوني او شدت له لامله دا پېښه «قارعه» نومول شوې ده. يا په بل سورت «غاشيه» کې، دا پېښه «غاشيه» بلل شوې ده: «هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ».[غاشيه۱ (۸۸:۱)] «غاشية» يعنې نغاړونکې او پټوونکې. د «غشاء» کليمه هم د همدې له ريښې ده او «پردې» ته ويل کېږي. يعنې داسې پېښه نه ده چې د نړۍ په يو اړخ کې رامنځته شي او د نړۍ په بل اړخ کې ترې کوم خبر هم نه وي، بلکې ټول ځايونه رانغاړي او د يو چټر په څېر ده چې ټوله دنيا، يا لږ تر لږه زموږ پېژندل شوې نړۍ به راونغاړي. نو، دقيقاً روښانه نه ده چې آيا مطلب يې زموږ شمسي منظومه ده يا مسئله تر دې هم پراخه او ستره ده. او بيا هم دا واقعه يا غاشيه يا حاقه، د «قيامت» په سورت کې هم په همدغه څېر نوم يعنې د قيامت په نوم ترې يادونه شوې ده: «لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ». [قيامت۱ (۷۵:۱)] «قيامت» او «قيام» يعنې پاڅېدل، ودرېدل، بيا ځلې ژوندي کېدل. پخپله د «آخرت» کليمه هم، چې د دنيا په مقابل کې ده، د همدې پاياني او وروستنۍ ورځې په معنا ده.

د يادولو وړ ده چې د «آخرت» کليمه او د «دنيا» کليمه هره يوه ۱۱۵ ځله په قرآن کې راغلې ده او هر دواړه کليمې په قرآن کې د کارونې له ليده مساوي دي. بيا هم د قيامت له واقعې څخه چې په يو ځای کې د «صاخّه» له تعبير سره ترې يادونه شوې ده: «فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ».[عبس۳۳ (۸۰:۳۳)] او «صاخّة» يعنې د چاودون څپه [دانفجار موج] او ډېر ستر هيبتناک غږ؛ تاسو تصور وکړئ چې که يو شل پونډي بمب وچوي څه ډول موج او غږ به رامنځته کړي، اوس د يو ستوري په چاودنه اټکل وکړئ چې څه به وشي په بل ځای کې يې ورته «طامّه» ويلی دی: «فَإِذَا جَاءَتِ الطَّامَّةُ الْكُبْرَى» [نازعات۳۴ (۷۹:۳۴)]. «طامّة» يعنې هاغه څه چې پر هر څيز لاسبرى وي او غلبه لري او قاهر دی. پر دې بنا، د پېښې په ورځ کې او په هاغه درنې او ډاروونکې واقعه کې چې پېښه به شي، په قرآن کې ښايي کابو څلويښت پنځوس نومونه ورته ورکړل شوي دي. له هغې جملې: «يَوْمِ الْحِسَابِ» [ص ۱۶ (۳۸:۱۶)]،

هاغه ورځ چې حساب او کتاب به معلوم شي؛ «يَوْمُ التَّغَابُنِ» [تغابن۹(۶۴:۹)] هاغه ورځ چې انسان د غبن او بايلښت احساس کوي، يعني هغوی چې د کړنو چارليک يې بېحاصله دی. خپل ځان به مغبون ويني. «يَوْمَ الْآزِفَةِ» [مؤمن۱۸(۴۰:۱۸)]؛ هاغه ورځ چې ډېره نږدې ده او ته انګېرې چې لېرې ده. چون هر نارسېدلی وخت د انسان په نظر لېرې برېښي. «يَوْمَ يَحْشُرُهُمْ» [فرقان۱۷(۲۵:۱۷)]؛ د حشر ورځ، او د ټولو د راپاځېدو ورځ. «يَوْمُ الْخُرُوجِ» [ق۴۲(۵۰:۴۲)]؛ هاغه ورځ چې انسانان به له قبرونو خارج شي. يَوْمَ الْجَمْعِ [شورى۷(۴۲:۷)]؛ هاغه ورځ چې ټول به يو ترېله راټول شي. «يَوْمٍ كَبِيرٍ» [هود۳(۱۱:۳)]؛ ستره ورځ. «يَومِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ» [حجر۳۸(۱۵:۳۸)]؛ هاغه ورځ چې وخت يې ټاکل شوی او معلوم دی. «يَوْمَ التَّلَاقِ» [مؤمن۱۵(۴۰:۱۵)]؛ د ملاقات او يو ځای کېدو ورځ چې ټول به يو بل ته ورسېږي، يا انسانان يو ترېله يا دا چې ټول د خپلو کړنو ليکونو او پايلو ته رسېږي. يَوْمُ الْفَصْلِ [صافات۲۱(۳۸:۲۱)]؛ د انفصال او بېلتون ورځ. د نوزېږي په خبر چې د مور له زيلانځ [رحم] څخه منفصل او بېلېږي او دنيا ته راځي او له دې «فصل» او بېلتون سره يې په ژوندانه کې بل فصل او پړاو پيل کوي. يَوْمٌ مَّشْهُودٌ [هود۱۰۳(۱۱:۱۰۳)]؛ او هاغه ورځ د لېدو وړ ده. يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ [انعام۷۳(۶:۷۳)]؛ کومه ورځ چې په شپېلۍ کې پوکی وشي. يَوْمُ الْخُلُودِ [ق۳۴(۵۰:۳۴)] چې دا د تلپاتېدو ورځ ده.

لکه څنګه چې وينئ، له دغو نومونو څخه په هر يوه کې، دغې ورځې ته له يوه ځانګړي کوټ او زاويې څخه پاملرنه شوې ده. زموږ تر بحث لاندې سورت کې مو وليدل چې له يوې ځانګړې زاويې دې موضوع ته پاملرنه شوې ده «القارعه»، ټکوونه، ډبونه؛ چې په اړه يې توضيحات ورکړل شول.

په هر يو له دغو سورتونو کې چې پورته مو ترې ځينو آيتونو ته اشاره وکړه. په هغوی هر يو کې د کايناتو په اړه ځينې نښې د هاغې ورځې له پېښو څخه ذکر شوې دي، مثلاً د «قيامت» په سورت کې، د سپوږمۍ په اړه وايي «وَخَسَفَ الْقَمَرُ. وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ». [قيامت ۸(۷۵:۸)او ۹] او سپوږمۍ تتېږي، او لمر او سپوږمۍ په خپلو کې جمع او يو ځای کېږي. داسې برېښي چې له هاغې چاودنې سره چې په لمر کې رامنځته کېږي، سپوږمۍ په هغې کې ويلې کېږي او په کتله کې يې ننوځي، مصرفېږي او نشت کېږي.

د لمر په اړه هم ډېر زيات ويل شوي دي، مثلاً «إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ» [تكوير۱ (۸۱:۱)] هاغه مهال چې لمر به تور او تت شي. يا د آسمانونو په اړه: «إِذَا السَّمَاء انفَطَرَتْ». [انفطار۱ (۸۲:۱)] چې د انفطار په سورت کې دی. يعنې د تسپو د دانو په څېر چې کله تار يې وشلېږي شيندل کېږي. زموږ چاپېره د دنيا نظام هم په همدې ډول يو تر بله جلا کېږي او پاشل کېږي. «يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ» [معارج۸ (۷۰:۸)]. هاغه ورځ چې ستاسو د سر له پاسه آسمان لکه د مسو په رنګ ويلي شي. يعنې قهوه ای رنګ ته مايل سور رنګ ته واوړي.

تاسو په ځينو نجومي عکسونو کې کولی شئ دقيقاً دا ووينئ چې د کوم ستوري حجم چې زياتېږي، د هغه سپين او ژېړ نور، په هاغه زيات شوي حجم کې، قهوه اي ته مايل په سور رنګ اوړي. له دې توضيح سره مل انځورونو کې دا پېښه په څرګنده توګه ښکاري [*مل انځور-۱]. د ويلو وړ ده چې په عربي کې سورګل ته «مُهل» وايي. او په عکس کې، ستوری هم سمدم لکه د سورګل په څېر په سور رنګ څرګنديږي، يعنې هماغه تت سور رنګ.

وَإِذَا السَّمَاء فُرِجَتْ. [مرسلات ۹ (۷۷:۹)] کومه ورځ چې د آسمانونو تړون وشلېږي او پرانېستل شي، دلته له آسمان څخه مطلب يعنې همدا د ځمکې پر سر طبقې دي. وَفُتِحَتِ السَّمَاء فَكَانَتْ أَبْوَابًا. [نبأ۱۹ (۷۸:۱۹)] او کومه ورځ چې د آسمانونو نظام په بشپړه توګه ګډوډ شي او لکه ددې په څېر چې آسمان سوری شي، په ټولو ځايونو کې به يې په يو بل کې د ستورو د ننوتو دړې [دروازې] پرانېستل شي. په آسمانونو کې د مختلفو څپو [موجونو] او کيهاني عنصرو په يو بل کې ګډېدلو ته ورته.

«وَإِذَا السَّمَاء كُشِطَتْ.» [تكوير۱۱ (۸۱:۱۱)]. او هاغه مهال چې [د] آسمان [پردې] پورته شي [= پردې اړخ ته لاړې شي]. د ستورو په اړه راوړي: «وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ. وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ.» [تكوير۲ (۸۱:۲)او ۳] او هاغه ورځ چې ستوري تياره شي او پرېوځي او غرونه رهي کړای شي. دلته د «نجوم» [ستورو] کليمه هم له «الف او لام» سره راغلې چې داسې برېښي مطلب يې همدا زموږ پېژندل شوي ستوري دي. يا د درياېونو په اړه يې ويلي چې څه ډول اور اخلي: «وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ.» [تكوير۶ (۸۱:۶)] او هاغه مهال چې سمندرونه بل [يا له ويلي شوو توکو ډک] شي. «وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ»[انفطار۳ (۸۲:۳)] او هاغه مهال چې سمندرونه وچوي [او د غرونو د ديوالونو او خنډونو له پرېوتو سره يو تر بله يو ځای شي].

«وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ» [طور۶(۵۲:۶)] او [سوګند پر له اوره ډک] توپاني سمندر [له اوچتو څپو سره].

وسمهال موږ پوهېږو چې اوبه له دوو غازونو اکسيجن او هايدروجن څخه ترکيب شوي دي او هر دواړه د سوځېدو او چاودنې وړ مادې دي. يا په هاغه ورځ کې د انرژۍ [نېرو او ځواکونو] او د قرآن په تعبير د پلوشو «پربشتو» د رول او نقش په اړه، په ګڼو سورتونو کې – [ښايي کابو شلو سورتونو کې] – دا خبره ويل شوې ده. او د «نفخه فی الصور» په اړه هم يوازې د اشارې په توګه وايو چې دوه نفخې، يا په واقعيت کې دوه فرمانه، دي.
«نفخه» يو ډول پُوکول دي چې په هغې ورځ کې د هغې په ړومبنې پوکې د ځمکې پر مخ ژوند له منځه ځي او له دويمې نفخې سره بيا له سره نوی ژوند پيل کيږي. دا نفخه د هاغې په څېر ده چې موږ ورته نن ورځ اصطلاحاً «بيګ بنګ» وايو.

---

۱ ـ «قرع» په ټول ځواک او قدرت سره پر يو څيز وهلو او ټکولو ته وايي. د ډېرو ماتولو پلک ته له همدې لامله «المقراع» وايي او پولادي تېزې توري او سخت او کلک ډال ته «قُرع» وايي.
اصولاً د کافرانو د کړنو او چال چلن هلاکوونکی او ويجاړوونکی غبرګون، چې پالونکي څښتن د خپلې پيرزوينې او حکمت له لامله، کوم مهلت چې آدم ته ورکړی او تر قيامته يې ځنډ کړی، هغه هم «قَارِعَةٌ» [نکره] نومول شوی دی [رعد۳۱ (۱۳:۳۱)] چې هره ستونزمنه، کړېښتيزه، ناوړه او مصيبت باره پېښه نغاړي.
خو د «القارعه»فاعل اسم[دمعرفه له الف او لام سره]،د قيامت د ظهور په درشل کې ټکوونکي، درزوونکي او ډبوونکي پېښې ته اشاره لري. د قيامت د ضربې ټکونه او ډبونه زموږ د چاپيريال د ځمکې او آسمان د راتلونکي چاودنې لپاره ټوليز وصف دی چې د ډېرې سختې او له تصوره لېرې بلا ښکارندوی دی.
په قرآن کې راغلي چې د ثمود او عاد قومونو قارعه دروغ وګڼله او د طبيعت له ټکوونکي غبرګون – «طاغيه» او «عاتيه» – سره هلاک شول [حاقه ۴ (۶۹:۴)].
د بعثت په لومړنيو دوو کلونو کې د نازل شوو آيتونو ستره برخه [کابو ۴۹/۴٪] له مختلفو اړخونو څخه لکه: - د قيامت پېښېدل، د جنت او جهنم توصيف او د آخرت توضيح – قيامت ته ځانګړې شوې ده چې ددې آيتونو يوه له دريو برخو څخه د قيامت پر پېښېدلو او رامنځته کېدلو پورې اړوند دي [د سير تحول قرآن کتاب دويم ټوک، د ۲۳ او ۲۶ مخونو جدولونه او منحنې ګان په دې اړه ښه توضيح لري]، خو ددې پېښې اغيزه په آسمانونو، ځمکه او کهکشاني فضا کې له قارعه سورت [د بعثت د دريم کال له نيمايي] څخه په مخکې نازل شوو سورتونو کې، په لاندېنې توګه له زماني ترتيب سره وينو:

طور [٩ (٥٢:٩) او ١٠] - «يَوْمَ تَمُورُ السَّمَاءُ مَوْرًا. وَتَسِيرُ الْجِبَالُ سَيْرًا» [د آسمان د جوّ تيز او ګړندی حرکت، او د غرونو روانېدل].

انفطار [١ (٨٢:١) تر ٣] - « إِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ. وَإِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ. وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ » [د آسمان د فضا شلېدل او پرې کېدل، د ستورو د جاذبې د نظم ګډوډي او د بحرونو چاودل او غوړېدل].

تکوير [١ (٨١:١) تر ٦] - « إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَإِذَا النُّجُومُ انْكَدَرَتْ وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ... وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ» [د لمر کنډ و کپر کېدل او را غونجېدل، د ستورو تتېدل او د غرونو حرکت کول].

معارج ٨ (٧٠:٨) او ٩ - « يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ. وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ » [دآسمان سور کېدل او د غرونو اوړه کېدل].

نبأ [١ (٧٨:١) او ٢، ١٩ (٧٨:١٩) تر ٢٠] - « عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ. عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ.»، «... وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا. وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا.» [د آسمان د حفاظتي جو د چتر شلېدل او خطا کېدل او د غرونو حرکت او په سراب بدلېدل].

انشقاق[١ (٨٤:١)تر٤]«إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ.وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ.وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ.وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ» [د آسمانونو ګډوډېدل او درز او چاود موندل، د وچو غځېدل او د لاندينيو طبقو د ويلو توکو راوتل].

قيامة [١ (٧٥:١) او ٧ (٧٥:٧) تر ٩] - « لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ »، « فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ. وَخَسَفَ الْقَمَرُ. وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ» [د لمر په چاودوني شپول کې د سپوږمۍ ننوتل او په هغه کې جذبېدل].

واقعه [١ (٥٦:١) تر ۶] - « إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ. لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ. خَافِضَةٌ رَافِعَةٌ. إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا. وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا. فَكَانَتْ هَبَاءً مُنْبَثًّا» [ د لمر له هسته ای بدلون او اووښتون څخه را پيدا شوي ټولېدل او پراخېدل (غونجېدل او پړسېدل)، د ځمکې سخته زلزله، د غرونو بيخنده راوتل او په غبار تبدېلېدل].

حاقه [١ (٦٩:١) تر ۴] - « الْحَاقَّةُ. مَا الْحَاقَّةُ. وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحَاقَّةُ. كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌ بِالْقَارِعَةِ» [په قطعي توګه د هاغې ټکوونکي پېښې تحقق موندل].

حاقه ١٣ (٦٩:١٣) تر ١٦] - «... وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً. فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ. وَانْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَاهِيَةٌ» [ځمکه او غرونه له يوه درز او ضربې سره ګډه وډه او ويجاړېږي او د آسمان ساتندويه چتر سست پست او جړېږي].

زلزال [١ (٩٩:١) تر ٣] - «إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا. وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا. وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا» [ځمکه به په ډېر شدت ولړزېږي او خپل لاندیني ويلي توکي به وشيندي].

٢ ـ د «ما ادريک» او «ما يدريک» جمله چې په ټوله کې ١٦ ځله په قرآن کې تکرار شوې ده، په ټوله کې له طبيعت او له طبيعت اخوا [ماوراءالطبيعة] او يا داسي پېچلو علمي مسئلو پورې اړوند دي چې پوهه او درک يې له بشري پوهې او دانش سره شونی نه وو او نه دی. لکه: ما ادريک: ما يوم الدين، ما يوم الفصل، ما القارعه، ما الحطمه، ما الحاقه، ما سجين، ما عليون، ما الطارق، ما العقبه، ما ليلة القدر، ما هی [هاوية]، ما يدريک لعل الساعة، ما يدريک لعله يتزکّی ...

يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ﴿۴﴾

هاغه ورځ چې خلک د خپرو ورو پتنګانو په څېر [=سپک وزري او په هوا کې ځوړند] شي![۳]

وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ﴿۵﴾

او غرونه لکه د ډانډس شوو رنګینو وړیو په څېر [له بېلو شوو ذرو سره] شي.[۴]

| الْمَبْثُوثِ | كَالْفَرَاشِ | النَّاسُ | يَكُونُ | يَوْمَ |
|---|---|---|---|---|
| خپاره شوي | په څېر د پتنګانو | خلک | شي به | هاغه ورځ |

| الْمَنْفُوشِ | كَالْعِهْنِ | الْجِبَالُ | وَتَكُونُ |
|---|---|---|---|
| ډانډس شوې ، وربېښل شوې، حلاجي شوې | لکه د رنګینې وړۍ | غرونه | او شي به |

ددې لپاره چې دا پوښتنه بې ځوابه پاتې شوې نه وي او بشر تر کومه بریده چې کولی شي د نبنو او اغېزو له لارې پوه شي چې قارعه څه خیز دی. د هاغې ټکوونکې پېښې په پایله کې یې اغېزې او ځانګړتیاوې ذکروي [چې دلته په جوته توګه ترې موخه پخپله د قیامت پیل دی]:

يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ. لکه څنګه چې مو وویل، په دې وړوکي سورت کې، قرآن لومړی له یوې سترې جهاني پېښې، او وروسته په هاغې ورځ کې د انسان له وضعیته خبره کوي. یعنې کله چې هاغه ستره پېښه رامنځته شي او په پایله کې به یې د دنیا ټول نظام ګډوډ شي؛ وایې یوه نښه تاسو ته د خلکو په اړه درکوو او یوه نښه هم له غرونو څخه، چې د ځمکې پر مخ ستر موجودات دي درکوو، که غواړئ چې پوه شئ د قارعه اغېز څه دی. نو هاغه ورځ به ددې پېښې له اغېزه خلک لکه د خپرو پتنګانو [پرېره کو] په څېر شي چې ګواکې پام یې نه دی کومې لور ته ځي، الوتې دي داسې چې بس الوت یې کړی وي پرته له دې چې کومه موخه ولري، لکه څنګه چې پتنګان د شمعې ګرد چاپېره اخوا دېخوا په نامنظمه توګه الوت کوي. نو دلته یې مطلب یا هاغه خلک دي چې په هاغه پَېر کې ژوند کوي یا داچې موخه یې ټول بشر له آدمه تر قیامته دی، چون ټول انسانان به په هاغه پېښه کې بیا ځلې ژوند مومي او ټول د خپل سرلیک پر لور رهي کېږي.

د «فرش» مصدر، پر غوړېدا، همواروالي او پراخوالي دلالت کوي. لکه ټغر، غالۍ او داسې نور او په عامه توګه هر فرش. په ځلونو په قرآن کې د ځمکې د وچو هموارولو ته، وروسته له

هغې چې ميليونونه کلونه تر اوبو لاندې وه، اشاره شوې ده – «وَالْأَرْضَ فَرَشْنَاهَا فَنِعْمَ الْمَاهِدُونَ» [ذاريات ۴۸ (۵۱:۴۸)] او ځمکه مو فرش کړې [او غوړولې] ده، نو موږ ښه برابروونکي يو!. – «الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً...» [بقره ۲۲ (۲:۲۲)] ...هغه [رب] چې ځمکه يې تاسو ته [د هوساينې لپاره، لکه] فرش او آسمان [= د ځمکې پورې اړوند تشيال] يې [له آسماني کتلو او ښپو څخه د امنيت لپاره] چت کړ... – د آس او کچرې شاته هم څرنګه چې خلک پر هغې هوسا کښيني فرش ويل کېږي. د ژوند شريکان يو د بل لپاره فرش کوونکي [فراش] دي. چې په خپل کور او خپلې کورنۍ کې يو د بل لپاره د هوساينې، آرامۍ او استوګنې موجبونه او لاملونه برابروي، خو پتنګ ته هم د هغوی د وزرونو د همواروالي، يا د ځراغ ګرد چاپېره د هغوی د خپرېدلو له کبله، فَراش وايي، همدا راز ملخ ته په مهاجرت کې د هغوی د خپرېدو له لامله.

«مَبْثُوثِ» د «بثّ» له ريښې [خپرول او منتشر کول]، چې له چاودنې څخه د راپيدا شوو ذراتو، هر لور ته پر بې نظمه نشر او خپرېدا دلالت کوي. قرآن د ځمکې په اطرافو او اکنافو کې د ژونديو موجوداتو او انسانانو خپرېدل د «بثّ» له فعل سره بيان کړي دي – «...وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ...» [بقره۱۶۴ (۲:۱۶۴)] ...او هاغه اوبه چې الله يې له آسمانه اوروي نو د هغه په توسه ځمکه له مرګه وروسته ژوندۍ کوي او په هغې کې له هر ډول خوځنده ګانو [= ژوو] خپروي... – «...رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً...» [نساء۱ (۴:۱)] ...[ستاسو رب] هاغه ذات دی چې تاسو يې له يوه نفسه [له واحدې حياتي سرچينې] وپنځولۍ او د هغه جوړه يې هم له هغه و پنځوله او له هغو دواړو يې ډېر نارينه او ښځينه [د ځمکې پر مخ] خپاره کړل... – «...وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ...» [لقمان۱۰ (۳۱:۱۰)] ...او په هغې کې له هر ډول خوځندوو خپاره شول... – «وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِنْ دَابَّةٍ...» [شورا ۲۹ (۴۲:۲۹)] او د هغه [د تدبير او ربوبيت] له نښو د آسمانونو او ځمکې پنځونه او هاغه خوځنده دي چې په دوی کې يې خپاره کړي دي...– وَفِي خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِنْ دَابَّةٍ ...[جاثيه۴ (۴۵:۴)] او [همدا راز] ستاسو په خپل پنځون کې او هر خوځنده چې [الله يې په جهان کې] خپروي....

– هاغه حزن، خوابدی، غم او اندوه ته چې له انسانه د صبر او زغم توان او ځواک اخلي او د خواخوږۍ او خوالې په توسه هغه خپروي هم «بث» وايي: «قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى

اللَّهِ ...» [يوسف ۸۶ (۱۲:۸۶)][يعقوب] ووېل : زه خو خپل غم او خپګان يوازې الله ته ژاړم [او ورسره خواله کوم، له تاسو سره څه کار او کوم شکايت نه لرم].....

د سپک وزرو پتنګانو په څېر د انسان الوتنه چې په آسمان کې له يوې خوا بلې خوا ته ځي د بې وزنۍ په شرايطو کې د ځمکې د جاذبې له کمښت سره چې په ځمکه او آسمان کې له داسې اوښتونونو وروسته څرګندېږي، په نورو سورتونو کې هم په نظر کې نېول شوي دي چې څرنګوالی يې په نورو آيتونو کې له غور او تدبر سره د علم په مرسته د پوهې وړ ګرځي.

سربېره پر دې، د غرونو ګډوډېدل او تيت پرک کېدل، لکه د ډانډس شوو او وربښل شوو وړيو په څېر، له دغې سترې ډارونکې او سهمناکې پېښې، يوه څنډه ده. نو د القارعه د پوهېدو لپاره دويمه نښه او اغيز لکه د وهل شوو وړيو په څېر د غرونو ګډوډېدل او خپرېدل دي.

وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنفُوشِ. او غرونه به لکه د رنګينو وهل شوو وړيو په څېر شي. دا د القارعه په اړه د پوښتنې دويم ځواب دی، چې ګواکې «القارعه» خو د داسې تعريف وړ نه دی چې حدود او بريدونه يې انسان ته وټاکل شي. نو په مخکينې آيت کې يې د بېلګې په توګه د قارعه له اغيزو د انسان د حالت په اړه ذکر کړی او دادی دلته د هغې ورځې د اغېزو له بېلګو څخه د جماداتو له جملې له غرونو څخه، چې د ځمکې پرمخ تر ټولو ستر موجودات دي يادونه کوي وايي:
دا غرونه چې تاته دومره ستر او دنګ برېښي، په هغې ورځ کې به لکه د وهل شوو وړيو په څېر سپک شي. د زلزال په سورت کې يې د قيامت پر ورځ د ځمکې حال بيان کړی او دلته يې د غرونو. همدا راز د واقعه په سورت کې په قيامت کې د غرونو حالت بيانوي:
وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا﴿٥﴾ فَكَانَتْ هَبَاءً مُّنبَثًّا﴿٦﴾ [واقعه ۵(۵۶:۵)او ۶] او غرونه به په سختۍ ټوټه ټوټه [او ورژول شي] شي. نو [غرونه به] خپره وره دوړه شي.

«عِهْنِ» يې مطلقې وړۍ يا رنګينې وړۍ ګڼلې دي، له يوازينې بل آيت څخه چې د «عِهْنِ» کليمه په قرآن کې راغلې ده، کېدی شي د هغه رنګارنګ والی يا سوروالی [دلمر د نور د رنګ د بدلېدو له لامله] استنباط شي.— «يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ. وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ» [معارج ۸(۷۰:۸)او ۹] [هاغه ورځ چې د آسمان رنګ لکه د غوړو يا د ويلې شوي فلز د کونوبي په څېر سور شي، او غرونه به لکه د ډانډس شوو يا وهل شوو وړيو په څېر شي]. هاغه فضايي انځورونه چې د ځينو لمرونو له

پایاني عمر څخه منتشر شوي دي په دقیقه توګه د سورګل په څېر ځرګنديږي. نو غرونه يې له رنګارنګ ډانډس شوو او وهل شوو وړيو سره ځکه تشبيه کړي دي، چې د هغوی رنګونه مختلف او راز راز وي. -[*مل انځور-۱]

خو «مَنْفُوش» د «نَفَشَ» مفعول اسم [د خپاره شول په معنا] يوه تشبيه ده د وړيو او پنبې د الیاف بېلېدل او د حجم زیاتېدل ، د حلاجې، چُوکې او يا د ډانډس په توسه. دا کلیمه يو ځل بل هم د هاغو پسونو په وصف کې چې د شپنو له څارنې پرته د شپې خپاره او د نورو کروندو ته ننوتي وي راغلې ده. «وَدَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِي الْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَاهِدِينَ »[انبياء ۷۸ (۲۱:۷۸)]. او داوود او سليمان [در ياد كره] هاغه مهال چې د هاغه کښتزار په اړه يې پرېکړه کوله چې د [يو ځانګړي] قوم پسونه [د شپون له څارنې پرته] پکې خپاره [او خرېدلي] ول، او موږ د هغوی پر پرېکړه شاهدان ولو.

هرو مرو به مو په ياد وي چې پخوا به يې زاړه مالوچ او وړۍ د ډېولو او پستولو لپاه نداف ته ورکولې او کله به يې چې د برستنو مالوچ په ډانډس وهل، د مالوچو ذرې به يې ترې ګردچاپېره هوا ته پورته کېدلې. وايي دا غرونه چې ستاسو له ليده دومره دراندہ او ټيکاو بربښي، په هغې ورځ کې به لکه د وهل شوو وړيو د ذرو په څېر په هوا کې خپاره شي.

پوهيږو چې غرونه د ځمکې پر مخ د جاذبې ځواک په توسه ټيکاو شوي دي او که د ځمکې او آسمان په اوسني نظام کې ډېر لږ بدلون لار ومومي، زموږ ځمکه به نوره دا اوسنۍ بڼه ونلري. که ډېره لږه کچه د جاذبې ډېره شي، د اجسامو او توکو تراکم به ډېر شي، او که د جاذبې کچه لږه شي، د هغوی تراکم به هم ډېر لږ شي. پر دې بنا، اصلاً په مادي نړۍ کې هيڅ کوم څيز په يو ټوټه يې بڼه شتون نه لري. که تاسو تر ټولو ډېر سخت اجسام او توکي تر ووړ-وين [ميکروسکوب] لاندې کيږدئ، وبه وينئ چې په سلو کې ۹۹ يې خالي او تشځای دی؛ يعنې له خلل او تشيال څخه ډک دي. نو، دا چې يو جسم زموږ په نظر کې کلک تر او بل جسم نرم تر بربښي، د هاغه واټن له کبله دی چې د هغوی په اتوم کې دننه د الکترون، پروتون او نيوترون تر منځ شتون لري. او که نه ټول اجسام له خالي تشيالونو څخه ډک دي. په واقعيت کې له علمي ليده، اصلاً په جهان کې يوه ټوټه يي جسم نشته. نو پر دې بنا کله چې جاذبه بدلون ومومي، د موادو او توکو ټول نظامونه ګډوډيږي.

د قارعه سورت په دې آیتونو کې د قیامت پیل او د انسان حالت له یوه ځانګړي لیده انځوروي، وايي: چې ددې ورځې هیبت او دهشت دومره زیات دی چې انسانان د پتنګانو په څېر اخوا دېخوا بې ترتیبه ځغلي، چې په نورو سورتونو کې د انسان د بې ترتیبۍ دې حالت ته له بل ګوټ او لیده اشاره شوې ده له هغې جملې د معارج په سورت کې فرمايي:

وَلَا يَسْأَلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا. يُبَصَّرُونَهُمْ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ. وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ. وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ. وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنْجِيهِ [معارج ۱۰ (۷۰:۱۰) تر ۱۴] او [په هغې ورځ کې] هیڅ صمیمي دوست د [خپل] صمیمي دوست [له حاله] پوښتنه نه کوي. هغوی ورته ورښوول کېږي، [له دې حال سره] مجرم خوښوي چې کاشکې د هغې ورځې له عذابه [د ژغورنې لپاره یې کولی شو] خپل زوی فدا کړي. او [همدا راز] د خپل ژوند ملګرې [ملګرې] او ورور یې! او خپلوان [ټبر] یې چې ده ته یې ځای ورکړی دی، او [همدا راز] هر هغه څوک چې د ځمکې پر مخ دي [فدیه یې کړي] چې که ویې ژغوري.

هاغه تصویر چې په دې سورت کې له کیهاني راتلونکو پېښو څخه څرګند شوی دی، د نباء په سورت کې د غرونو په حرکت، رهي کېدلو، سَیَلان او په سراب [ځلوب] د هغوی د بدلون په بڼه تشریح شوی دی. او د طه او مرسلات په سورت کې د غرونو له نسف، تار په تار کېدو او له بیخه راوتو او د هغه په ټکولو او د ذراتو د غبار کېدو او خپرېدو په بڼه توضیح شوی دی:

«وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا» [نباء ۲۰ (۷۸:۲۰)] او غرونه به رهي شوي او [د ذرو په تجزیه کېدو او ګډوډېدو یې، لکه د] سراب [او ځلوب په څېر] به شي.

«وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا. فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا. لَا تَرَى فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا.»[طه ۱۰۵ (۲۰:۱۰۵) تر۱۰۷]. [ای پیغمبره، خلک] له تا څخه [د قیامت د ورځې] د غرونو [د وضعیت ] په اړه پوښتي. نو ووايه: زما پالونکی ښتن به هاغه په ټولیزه توګه تار په تار کړي [د دوړو په څېر به یې وشیندي]. او [د داسې چاودنې له اغېزې] به ځمکه [لکه] د هوار ډاګ په څېر پرېږدي. [په داسې ډول چې] هیڅ لوړه او ژوره به پکې نه وینې.

«وَإِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ» [مرسلات ۱۰ (۷۷:۱۰)] او هغه مهال چې غرونه [له خپله ځایه ونړېږي [ګډوډ] او خپاره واره شي.

په هر حال کې، لکه څنګه چې مخکې مو ویلي، د دغو مطلبونو له مطرح کولو څخه د قرآن موخه دا نه ده چې وغواړي موږ ته نجوم، ستور پېژندنه او کیهان پېژندنه را زده کړي؛ بلکې غواړي موږ ته یو لید څرګند او په ګوته کړي چې پر دې پوه شو چې له دې ستورو سره چې تر دې بریده د زړه تړاو لرو یوه ورځ به یې عمر پای ته ورسېږي او د هغوی له مرګ سره به بل ژوند پیل شي او په هغې ورځ کې به زمونږه [انسانانو] کړنو ته رسېدنه وکړي.

---

۳ ـ د «فرش» مصدر، پر غوړېدا، همواروالي او پراخوالي دلالت کوي. لکه تغر، غالۍ او داسې نور او په عامه توګه هر فرش. په ځلونو په قرآن کې د ځمکې د وچو هموارولو ته، وروسته له دې چې میلیونونه کلونه تر اوبو لاندې وه، اشاره شوې ده [ذاریات۴۸(۵۱:۴۸)اوبقره ۲۲ (۲:۲۲)]. د آس او کچرې شاته هم چې پر هغې کنبېني فرش ویل کیږي. د ژوند شریکان یو د بل لپاره فرش کوونکي [فراش] دي. چې په خپل کور او خپلې کورنۍ کې یو د بل لپاره د هوساینې او استوګنې موجبونه او لاملونه برابروي، خو پتنګ ته هم د هغوی د وزرونو د هموارولي، یا د څراغ ګرد چاپېره د هغوی د خپرېدلو له کبله، فَراش وایي، همدا راز ملخانو ته په مهاجرت کې د هغوی د خپرېدو له لامله.

«مَبْثُوثِ» د «بثّ» له ریښې [خپرول او منتشر کول]، له چاودنې څخه د راپیدا شوو ذراتو، هر لور ته پر بې نظمه نشر او خپرېدا دلالت کوي. قرآن د ځمکې په اطرافو او اکنافو کې د ژوندیو موجوداتو او انسانانو خپرېدل د «بثّ» له فعل سره بیان کړي دي [بقره۱۶۴ (۲:۱۶۴)، نساء۱ (۴:۱)، لقمان۱۰ (۳۱:۱۰)، شورا ۲۹ (۴۲:۲۹) او جاثیه ۴ (۴۵:۴)]، هاغه حزن، خوابدي، غم او اندوه ته چې له انسانه د صبر او زغم توان او ځواک اخلي او د خواخوږۍ په توسه هغه خپروي هم بث وایي: [یوسف ۸۶ (۱۲:۸۶)] - «قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ ...».

۴ ـ «عِهْنِ» یې مطلق وړۍ یا رنګینې وړۍ ګڼلې دي، له یوازینې بل آیت څخه چې د «عِهْنِ» کلیمه په قرآن کې راغلې ده، کېدی شي د هغه رنګارنګ والی یا سوروالی [ د لمر د نور د رنګ له بدلېدو له لامله] استنباط شي. [معارج ۸(۷۰:۸) او ۹] - « يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ. وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ » [هاغه ورځ چې د آسمان رنګ لکه د غوړو یا د ویلې شوې فلز د کونوبې په څېر سور شي، او غرونه به لکه د ډانډس شوو وړیو په څېر شي]. هاغه فضایي انځورونه چې د ځینو لمرونو له پایاني عمر څخه منتشر شوي دي په دقیقه توګه د سورګل په څېر څرګندیږي. خو «مَنْفُوش» د «نَفَشَ» مفعول اسم [د خپاره شول په معنا] یوه تشبیه ده د وړیو او پنبې د الیاف بېلېدل او د حجم زیاتېدل د حلاجې او ډانډس په توسه. دا کلیمه یو ځل بله د هاغو پسونو په وصف کې چې د شپنو له مراقبته پرته د شپې خپاره او د نورو کروندو ته ننوتي وي راغلی دی. [انبیاء ۷۸ (۲۱:۷۸)].

هاغه تصوير چې په دې سورت کې له کيهاني راتلونکو پېښو څخه څرګند شوی دی، د نبـاء سورت پـه ۲۰ آيت (۲۰:۷۸) کې د غرونو په حرکت او سَيَلان راتلـو او بـدلون يـې پـه سـراب [وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا]، او د طه سورت په ۱۰۵ [(۱۰۵:۲۰) تر ۱۰۷] آيت کې له بيخه د غرونو په راوتو او د هغه په ټکولـو او د ذراتو د غبار کېدو په اړه يې توضيح ورکړې ده: «وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا. فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا. لَاتَرَى فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا.»

---

﴿فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ﴾۶

نو مګر د هغه چا چې د کړنو ميزانونه [= د ارزونې تله] درانه وي، [۵]

﴿فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ﴾۷

نو دی به په ښه [سوکاله او رضايت ښونکي] ژوند کې وي.

﴿وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ﴾۸

او خو د هر چا چې د کړنو [د تلې] پله سپکه وي،

﴿فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ﴾۹

نو هاويه [=اور] به يې پناه ځای وي. [۶]

﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ﴾۱۰

او څه [علم او کومه نښانه] به تا آګاه کړي چې هغه [هاويه] څه شی دی؟

﴿نَارٌ حَامِيَةٌ﴾۱۱ سوځنده اور دی.

| فَأَمَّا | مَنْ | ثَقُلَتْ | مَوَازِينُهُ | فَهُوَ | فِي عِيشَةٍ | رَاضِيَةٍ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نو مګر | د هر چا چې | درانه وي | ميزانونه[د ارزونې تله يې] | نو هغه | په ژوند کې وي | خوښ - راضي |

| وَأَمَّا | مَنْ | خَفَّتْ | مَوَازِينُهُ | فَأُمُّهُ | هَاوِيَةٌ |
|---|---|---|---|---|---|
| خو مګر | د هر چا چې | سپکه وي | [د ارزونې] تله يې | نو پناه ځای به يې وي | سوځنده اور |

| وَمَا | أَدْرَاكَ | مَا هِيَهْ | نَارٌ | حَامِيَةٌ |
|---|---|---|---|---|
| او څه به | پوه کړي تا چې | څه دی دا | اور دی | سوځنده |

---

فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ. په هاغه ورځ کې د هـر چـا دکړنـو ميزانونـه چـې درانـه دي. [«ميزان» هاغه تيره ده چې د يو څيز د وزن کولو او تللو لپاره يې په تله کې ږدي. او دا د تمثيل او تشبيه له بابه دی.] په واقعيت کې غواړي ووايي چې الله تعالی په يوه پله کې تاسو ږدي او په بله کې

ستاسو د عملونو وزنونه، او تاسو د هغې په توسه سنجوي. نو د هر چا چې د مثبتو کړنو میزان دروند وي، فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ. په يوه راضيه عيش کې، په يوه غوره ژوندانه کې، په داسې يوه ژوند کې به وارد شي چې له هغه به راضي وي.

وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ. او د هاغه چا چې د کړنو پله خفيفه او سپکه وي او د مثبتو کړنو وزن او تيره يې د ځان لپاره پريښې نه وي، فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ. «اُمّ» او ځايکې يې «هاويه» دی. «هاويه» څه څيز دی؟ نه پوهيږو. خو د څېړنې په توګه ويلی شو چې، د «فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ » په جمله کې، «اُمّ» يعني مور. «اَمَّ، يَؤُمَّ» د «قَصَدَ، يَقْصُدُ» په معنا دی؛ «اَمَّ» يعني قصد يې وکړ، «يَؤُمَّ» يعني قصد کوي. په عربي ژبه کې مور ته له دې کبله «اُمّ» وايي چې مقصد يې ماشوم دی؛ يعنې د ماشوم لپاره پناه ځای او «اُم» همدا مور ده او ماشومان د خطر پر مهال د هغې د مينې او محبت لمن ته پناه وروړي. دا يوه لطيفه او په زړه پورې تشبيه ده چې د لار ورکو لپاره پراخه غيږه هاويه ده، هاويه د «هوی» له ريښې سقوط او ژوره کنده ده. د نفس هوا هم انسان دې ډول کندې ته غورځوي. ښايي له هاويه څخه مطلب، همدا د شيطاني هوی او هوسونو د منفي آثارو تحقق وي. وايي: د هغه چا چې ميزان سپک وي پايله يې اسفل سافلين ته سقوط دی لکه څنګه چې د تين په سورت کې وايي:

«ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ.إِلَّاالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ..» [تين۵(۹۵:۵)او۶]. بيا مو هغه [د غورځېدنې له پړاوونو] له ټيټو څخه ټيټ [پړاو د جاذبې] ته ور وګرځاوه. مګر هاغو کسانو چې ايمان يې راوړی او نيک کارونه يې کړي....

مخکې مو وويل چې «مَوَازِين» د موزون جمع [وزن شوی – تلل شوی –]، يا د ميزان جمع [تله يا د سنجش، تللو او اندازه کولو هره وسيله] ده. خو په مجازي بڼه، د شخص اعتبار، منزلت او قدر ته ويل کېږي. لکه څنګه چې د قرآن په تصريح د هاغو کسانو لپاره چې عملونه يې پوچ دي کوم وزن نه حسابيږي [نه ګڼل کيږي]:

«الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا. أُولَئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا.» [کهف۱۰۴(۱۸:۱۰۴) او ۱۰۵][دوی] هغوی دي چې هڅې يې په دنيائي ژوند کې،[د مادي موخو په لار کې] ورکې شوي [= بابېزه شوي] او دوی [پخپله] ګڼې، چې دوی ښه کارونه کوي. دوی هاغه کسان دي چې [په خپل دنيائي عمر کې] د

خپل پالونکي څښتن له آيتونو او هغه سره له مخامخ کېدو منکر شول؛ نو په پايله کې ددوی کړنې تباه شوي دي نو د قيامت په ورځ کې کوم وزن [=ارزښت] نه ورکوو [= د خپل آخرت لپاره يې کوم کار نه دی کړی چې هغه په نظر کې ونيسو] .

د هر انسان دروندوالی، په ايمان او نېک عمل کې د هغه په معنوي وزن پورې تړاو لري. د قرآن په تعبير د قيامت په ورځ کې «د قسط موازين» ګومارل کيږي او د عملونو په محاسبه کې د «آوري» د دانې پر وزن هم کوم څيز ناګڼلی او ناليدلی نه نېول کيږي:

«وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ» [انبياء۴۷(۲۱:۴۷)]. او موږ د قيامت په ورځ کې د عدل [او انصاف] تلې [=ځير او دقيقې تلې] ږدو؛ نو پر هيچا به [هيڅ ډول] ظلم و نشي، او که [کړنې يې] د آوري د دانې هومره وي موږ هغه [دده په حساب کې] راوړو، [د بندګانو حساب ته د رسېدلو لپاره] زموږ حسابګروالی بس دی. [نو اړتيا نشته تاسو په دنيا کې د بل چا لپاره دداسې واک او ځواک، منونکي او ډنډورچيان اوسئ].

د کړنو او اعمالو د سپکوالي او دروندوالي موضوع د اعراف او مؤمنون په سورتونو کې هم راغلې ده. «وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ. وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَظْلِمُونَ»[اعراف ۸(۷:۸)او۹] او پر هغه ورځ به [د کړنو] ارزونه په حقه [او رښتيني توګه] [=دقيقه او په انصاف] وي، نو د هغه چا چې [د کړنو] ميزانونه درانده[=ارزښتمن]وي، نو هماغوی بريالي [او زرغون] دي. او د هاغو کسانو چې [د کړنو] ميزانونه سپک [=بې ارزښته] وي، هغوی د هاغه زياتي له لامله چې زموږ پر آيتونو يې [په دنيائي ژوند کې]کاوه، [په حقيقت کې يې] خپل ځانونه په زيان کې واچول.

«فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ خَالِدُونَ»[مؤمنون ۱۰۲(۲۳:۱۰۲) او ۱۰۳] نو [په هاغه ورځ کې] د چا چې [د کړنو د ارزونې] ميزانونه درانده [=ارزښتمن] وي، نو هماغوی بريالي دي [چې د هر انسان هيله ده]. او هاغه څوک چې [د کړنو د ارزونې] ميزانونه يې سپک وي، نو داسې کسانو خپل نفسونه [ځانونه] [د ژوندانه په جوارۍ کې] په تلپاتي جهنم کې زيانمن کړي دي.

د قرآن له آيتونو داسې بربښي چې هلته يوازې د خير عملونه سنجول کېږي، بد عملونه او بدې کړنې پوچې دي او وزن نلري؛ بد عملونه او بدې کړنې، بد اندونه او بد اخلاق په قطعي توګه د لېږې غورځولو دي. کله چې د يو چا ښه کارونه زيات وي، درجه يې اوچتېږي، او که

چا ښه کارونه لږ وي او سپک وي درجه يې ټيټيږي. او د چا چې د خدای تعالی د ارزونې او معيار پر وړاندې تله سپکه شي ... نو: « فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ » نو دداسې کسانو د ستنېدو پناه ځای د دوزخ ژوره کنده ده! نو هاويه د هاغو کسانو د کړنو پايله ده چې د ارزونې تله يې سپکه وي.

په فزيک کې هم هر څومره چې زيات ثابت قوانين کشفيږي او جوتيږي د حقيقتونو تعريف ته په هماغه کچه او متناسبه توګه ورنږدې کېږي: د عمومي جاذبې د قوانينو تر کشف وروسته، چې د جسم دروندوالی يې په هغې کې د جاذبې د اغېز پر مقياس تعريف کړی وو. او وسمهال ثقل يا دروندوالی پخپله د اجسامو د تحرک او ځواک کچه، يا د «انشتين» په وينا توليد شوی کار ګڼل کېږي – پر همدې بنا وايي نور، تر ټولو اجسامو دروند تر دی.

ددې لپاره چې د موضوع اهميت او دروندوالی څرګند کړي په پای کې بيا هم د پوښتنې په توګه يې مطرح کوي او وايي چې ته څه پوهيږې چې دا [هاويه] څه شيز دی؟

وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ. ته څه پوهيږې چې دا [هاويه] څه شيز دی؟ نَارٌ حَامِيَةٌ. يو اور دی ډېر سخت سوځوونکی. دلته په قطعي توګه نشي ويل کېدی چې آيا دا تعبير په واقعيت کې له هماغه شيز سره تشبيه ده چې په هغې ورځ کې ګنهګاران سوځوي! يا نه، همدا اور دی چې موږ يې پېژنو. خو که مطلب يې همدا اور دی، نو ولې يې فرمايلي وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ؟ ځکه چې دا اور خو ظاهراً زموږ لپاره پېژندل شوی دی، مګر دا چې ووايو دا تصور اشتباه دی او ددې اور حقيقت هم موږ ته معلوم نه دی.

د پوښتنې په توګه مطرح کول يې د ابهام د زياتوالي او په ويره او ډار کې د اچولو لپاره دی. چې دا طريقه په قرآن کې ډېره څرګنده او مشهوره ده. دا ډول پوښتنه، يوه چاره د انسان د تصور له حدودو او بريدونو او د هغه د پوهې او درک له دائرې ډېره اوچته او اخوا وړي! او وروپسې، ځواب يې چې راځي؛ ګواکې دا ځواب د وروستۍ کړيکې انګازه ده: نَارٌ حَامِيَةٌ. ډېر ګرم او سوځوونکی اور دی. دا اور د هاغه چا مور ده چې د ښېګڼو او نېکيو تله يې سپکه شي! دا د هغوی مور ده، دا هاغه مور ده ددې په څېر چې يو ثوک ورته ورستنيږي او په لمن کې يې پناه اخلي! د مور په غيږ کې، خو امن او امان، ارامي او سوکالي ده. خو دا ډول يو ثوک د داسې مور په غيږ کې څه مومي؟ ... ګړنګ دی، ژوره کنده او سوځوونکی اور دی!!
دا، يو نابېره له داسې ستونزې اوسختۍ سره مخامخ کېدل دي چې تريخ او ناوړه حقيقت انځوروي!

لنډه داچې د قيامت په ورځ کې به موږ پوه شو چې دنيا حساب کتاب درلود او هر څيز ثبت او ضبط کېدل: إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا [نبأ ۲۷ (۷۸:۲۷)]. خلک پر حساب باور نه لري، په داسې حال کې چې وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا [نبأ۲۹ (۷۸:۲۹)]. موږ د هغوی ټول څيزونه احصاء کړي دي او ګڼلي مو دي او ثبت ته مو رسولي دي. په بل ځای کې وايي چې: هاغه کسان چې ښه عملونه او کړنې ولري حساب به يې ډېر آسان او ساده وي او هاغه کسان چې د کړنو وزن يې سپک وي د عملونو حساب ته رسېدنه او ګڼل به يې اوږده شي. په ډېرو آيتونو کې راغلي دي چې پرښتې او ځواکونه ستاسو پر عملونو څارنه کوي او هغه ثبتوي.

د قيامت په ورځ کې به انسان، پر هاغه څه چې مخکې يې لېږلي دي يا وروسته ورپسې لېږل کيږي، آګاه او پوه شي، «يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ»[قيامت ۱۳ (۷۵:۱۳)]. يعنې زموږ عملونه او کړنې، که بد دي يا ښه، آغېزې يې تر قيامته باقي دي. موږ ټول به په پای کې يوه ورځ هرومرو له دنيا ځو، خو زموږ د ښو او بدو عملونو نتيجه او د هغوی د آغېزو نتيجه او پايله چې په نورو خلکو او ټولنه کې مو درلودل، همداسې د زنځېر په څېر به غځونه او ادامه ولري؛ لکه ددې په څېر چې په يوه مؤسسه کې مو پانګونه کړې وي او ددې مؤسسې فعاليت تر موږ وروسته هم ادامه ومومي؛ نو که دا مؤسسه د شر ده او يا د خير مؤسسه، په هر حال کې به باقي پاتې شي. يا په بل ځای کې يې ويلي؛ يَوْمَ يَنظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ [نبأ۴۰ (۷۸:۴۰)]. په قيامت کې هر څوکويني چې دوو لاسونه يې له مخکې څه لېږلي دي. «دوه لاسونه» زموږ له بدو او ښو عملونو څخه تمثيل دی يا: عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ. [تکوير۱۴ (۸۱:۱۴)] هاغه ورځ انسان ويني چې څه يې حاضر کړي دي او څه ډول يې خپل راتلونکی حساب درلودلی دی. يا: وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا[کهف ۴۹ (۱۸:۴۹)] او هر يو انسان به هر هغه څه چې عمل يې کړی دی حاضر ومومي او «يَقُولُ يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي».[فجر۲۴ (۸۹:۲۴)] او وايي به کاشکې د خپل نن ورځې ژوند لپاره مې له مخکې څه کار کړی وای. موږ ددې دنيا ژوند واقعي ژوند ګڼو، خو قرآن وايي چې انسان به خپل واقعي ژوند هلته ومومي او افسوس به خوري چې دداسې ژوند لپاره يې له مخکې څه نه دي لېږلي. د ډېرو آيتونو مضمون له دې آګاهۍ او خبرتيا سره دی. او په پای کې وروستی مطلب دا چې د قيامت په ورځ به انسانان د هغوی د کړنو او عملونو د ډول له مخې يو تر بله بېلېږي.

۵ ـ «مَوَازِين» د موزون جمع [وزن شوی– تلل شوی–]، يا د ميزان جمع [ تله يا د سنجش، تللو او اندازه کولو هره وسيله]ده.خو په مجازي بڼه، د شخص اعتبار، منزلت او قدر ته ويل کيږي. لکه څنګه چې د قرآن په تصريح د هاغو کسانو لپاره چې عملونه يې پوچ دي کوم وزن نه ګڼل کيږي[کهف ۱۰۵ (۱۸:۱۰۵)]. د هر انسان دروندوالی، په ايمان او نيک عمل کې د هغه په معنوي وزن پورې تړاو لري. د قرآن په تعبير د قيامت په ورځ کې «د قسط موازين» ګومارل کيږي او د عملونو په محاسبه کې د غوښت د دانې پر وزن هم څه څيز ناليدلی نه نبول کيږي [انبياء۴۷(۲۱:۴۷)]. د کړنو او اعمالو د سپکوالي او دروندوالي موضوع د اعراف [۸(۷:۸)او۹] او مؤمنون [۱۰۲ (۲۳:۱۰۲)او۱۰۳] په سورتونو کې هم راغلې ده.

۶ ـ د « فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ » په جمله کې، «أُم» همدا مور ده چې ماشومان د خطر پر مهال د هغې د مينې او محبت لمن ته پناه وروړي. دا يوه لطيفه او په زړه پورې تشبيه ده چې د لار ورکو پراخه غيږ هاويه ده، هاويه د «هوی» له ريښې ژوره کنده ده. د نفس هوا هم انسان دا ډول کندې ته غورځوي. ښايي له هاويه څخه مطلب، همدا د شيطاني هوی او هوسونو د منفي آثارو تحقق وي. [والله اعلم]

---

## په قرآن کې د قيامت په اړه د انسان او طبيعي ښکارندو اړوند د ځينو آيتونو ټولبندي:

ددې تشريح په پای کې اوس چې د قيامت په درشل کې پر جهاني انقلابونو او اوښتونونو ناظر وروستني سورت ته رسيدلي يو، اړينه ده يو ځغلنده نظر پر هاغو آيتونو واچوو چې تر اوسه مو په دې اړه لوستي، او د خپلې ناڅيزې پوهې او درک تر بريده يوه ساده ټولبندي وکړو او نتيجه واخلو، ګوندې وي چې د الهي پېرزوينې او لورېنې په رڼا کې او د هغه د کتاب د آيتونو د انوارو په مرسته چې «کتابا متشابها مثانی» دی او هر آيت يې بل آيت تفسيروي، د دغه «ستر راز» پر يوه څنډه، چې پر لور يې رهي يو، پوه شو.

ړومبی هاغه آيتونه چې په دې اړه مو لوستي دي د کال د نزول پر حساب په يو جدول کې تنظيمو، د آيتونو د نزول ترتيب ته پاملرنه، او د هغوی يو له بله سره په اړيکو کې تدبر دا مرسته کوي چې وپوهيږو د کتاب نازلوونکي له کومې طريقې او له کومو پيليزو سره دا ستره موضوع مسلمانانو ته ور زده کړې او انذار او ګواښنه يې ورته کړې ده او له کومه يې پيل کړې ده. البته هاغه څه مو چې په جدول کې پرله پسې راوړي دي د قيامت او جنت او جهنم او د اعمالو د حساب او کتاب پورې اړوند ټول آيتونه نه دي بلکې په ټوله کې هغه آيتونه مو راټول کړي دي چې په يو ډول نه يو ډول په هاغو پېښو پورې اړه لري چې په آسمان او ځمکه کې رامخته کيږي. هېښنده دا چې؛ دا مسئله په نورو سورتونو کې هم غالباً، لکه د قارعه سورت په خبر له دوو برخو څخه تر کيب شوې ده؛ ۱ ـ په آسمان او ځمکه کې تحول او اووښتون. ۲ ـ د انسان په عالم کې تحول او اوښتون؛ چې لومړۍ برخه يې نيغ په نېغه په طبيعت کې له داسې تحولاتو څخه خبره کوي، يا د واقعه، قارعه، قيامت، ساعت او ... تر عنوان وروسته او ورپسې هغه مطرح کوي او دويمه برخه يې د انسانانو سرليکونه په مختلفو بڼو بيانوي.

ښه به وي چې لومړی مل جدول ته يوه کتنه وکړو د آيتونو له مقايسې او څېړنې وروسته، کليات يې په لنډه توګه راوباسو او تر پاملرنې او څېړنې وروسته لنډه تبصره پرې وکړو.

| ګڼه | د سورت نوم [دترتیب ګڼه] | دنزول کال | دموضوع اعلام | تحولات او اوښتون په ځمکه او آسمان کې | د کړنو او اعمالو جزا (د انسان سرلیک) |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | غاشيه [۸۸] | ۱ بعثت | هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ ﴿۱﴾ | | وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ﴿۲﴾ عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ ﴿۳﴾ تَصْلَى نَارًا حَامِيَةً﴿۴﴾ ... وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاعِمَةٌ ﴿۴﴾ لِسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿۴﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿۴﴾ |
| ۲ | انفطار [۸۲] | ۱ بعثت | | إِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ ﴿۱﴾ وَإِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ ﴿۲﴾ وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴿۳﴾ وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ﴿۴﴾ | عَلِمَتْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴿۵﴾ ... وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ ﴿۱۰﴾ كِرَامًا كَاتِبِينَ ﴿۱۱﴾ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ﴿۱۲﴾ إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ﴿۱۳﴾ وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ ﴿۱۴﴾ |
| ۳ | تکوير [۸۱] | ۱ بعثت | | إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ﴿۱﴾ وَإِذَا النُّجُومُ انْكَدَرَتْ ﴿۲﴾ وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ﴿۳﴾ ... وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴿۶﴾ | وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ ﴿۱۰﴾ وَإِذَا السَّمَاءُ كُشِطَتْ ﴿۱۱﴾ وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ﴿۱۲﴾ وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ﴿۱۳﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَا أَحْضَرَتْ ﴿۱۴﴾ |
| ۴ | نازعات [۷۹] | ۲ بعثت | يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ﴿۶﴾ | تَتْبَعُهَاالرَّادِفَةُ ﴿۷﴾ ...فَإِنَّمَاهِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾ فَإِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ﴿۱۴﴾.... | |
| ۵ | معارج [۷۰] | ۲ بعثت | إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُ بَعِيدًا ﴿۶﴾ وَنَرَاهُ قَرِيبًا ﴿۷﴾ | يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ ﴿۸﴾ وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ﴿۹﴾ | وَلَا يَسْأَلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا﴿۱۰﴾ يُبَصَّرُونَهُمْ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ﴿۱۱﴾...كَلَّا إِنَّهَا لَظَى﴿۱۵﴾ نَزَّاعَةً لِلشَّوَى ﴿۱۶﴾ تَدْعُو مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّى ﴿۱۷﴾ |
| ۶ | مرسلات [۷۷] | ۲ بعثت | إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَاقِعٌ ﴿۷﴾ | فَإِذَا النُّجُومُ طُمِسَتْ ﴿۸﴾ وَإِذَا السَّمَاءُ فُرِجَتْ ﴿۹﴾ وَإِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ﴿۱۰﴾ وَإِذَاالرُّسُلُ أُقِّتَتْ ﴿۱۱﴾ | لِأَيِّ يَوْمٍ أُجِّلَتْ ﴿۱۲﴾ لِيَوْمِ الْفَصْلِ﴿۱۳﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ﴿۱۴﴾ ...كَذَلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿۱۸﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ ﴿۱۹﴾ |
| ۷ | نباء [۷۸] | ۲ بعثت | يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿۱۸﴾ | وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴿۱۹﴾ وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿۲۰﴾ | إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿۲۱﴾ لِلطَّاغِينَ مَآبًا ﴿۲۲﴾ ... إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿۲۷﴾ ... وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا ﴿۲۹﴾ ... إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿۳۱﴾ |
| ۸ | انشقاق [۸۴] | ۲ بعثت | | إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ ﴿۱﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿۲﴾ وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ ﴿۳﴾ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ ﴿۴﴾ .... | فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ ﴿۲۹﴾ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴿۲۹﴾ وَيَنْقَلِبُ إِلَى أَهْلِهِ مَسْرُورًا ﴿۲۹﴾ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ وَرَاءَ ظَهْرِهِ ﴿۲۹﴾ فَسَوْفَ يَدْعُو ثُبُورًا ﴿۲۹﴾ |
| ۹ | عبس [۸۰] | ۲ بعثت | فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ ﴿۳۳﴾ | يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿۳۴﴾ | وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍمُسْفِرَةٌ﴿۳۸﴾ ضَاحِكَةٌ مُسْتَبْشِرَةٌ ﴿۳۹﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿۴۰﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿۴۱﴾ أُولَئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿۴۲﴾ |
| ۱۰ | قيامة [۷۵] | ۳ بعثت | يَسْأَلُ أَيَّانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ ﴿۶﴾ | فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ﴿۷﴾ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ﴿۸﴾ وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ﴿۹﴾ يَقُولُ الْإِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ ﴿۱۰﴾ | كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿۱۱﴾ إِلَى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ ﴿۱۲﴾ يُنَبَّأُ الْإِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿۱۳﴾ بَلِ الْإِنْسَانُ عَلَى نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ ﴿۱۴﴾ وَلَوْ أَلْقَى مَعَاذِيرَهُ ﴿۱۵﴾ |
| ۱۱ | واقعه [۵۶] | ۳ بعثت | إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿۱﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿۲﴾ | خَافِضَةٌ رَافِعَةٌ ﴿۳﴾ إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا ﴿۴﴾ وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ﴿۵﴾ فَكَانَتْ هَبَاءً مُنْبَثًّا ﴿۶﴾ | وَكُنْتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَاثَةً ﴿۷﴾ فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿۸﴾ وَ أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ﴿۹﴾ وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ ﴿۱۰﴾ أُولَئِكَ الْمُقَرَّبُونَ ﴿۱۱﴾ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | نازعات [۷۹] | ۳ بعث | فَإِذاجاءَت الطَّامَّةُ الْكُبْرى﴿۳۴﴾ | | يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ مَا سَعَى﴿۳۵﴾وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَنْ يَرَى﴿۳۶﴾ فَأَمَّا مَنْ طَغَى﴿۳۷﴾ ... وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى﴿۴۰﴾ |
| ۱۳ | فجر [۸۹] | ۳ بعث | | كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿۲۱﴾ وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿۲۲﴾ | وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَى ﴿۲۳﴾ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي ﴿۲۴﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَا يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ ﴿۲۵﴾ |
| ۱۴ | زلزال [۹۹] | ۳ بعث | | إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿۱﴾ وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ﴿۲﴾ وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا ﴿۳﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴿۴﴾ | بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا ﴿۴﴾ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ﴿۴﴾ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴿۴﴾ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴿۴﴾ |
| ۱۵ | قارعه [۱۰۱] | ۳ بعث | الْقَارِعَةُ ﴿۶﴾ مَاالْقَارِعَةُ ﴿۶﴾ وَمَاأَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۶﴾ | يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ ﴿۴﴾ وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ ﴿۴﴾ | فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ﴿۴﴾فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ﴿۴﴾وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ﴿۴﴾فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ﴿۴﴾وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ﴿۴﴾نَارٌ حَامِيَةٌ﴿۴﴾ |
| ۱۶ | حاقه [۶۹] | ۳ بعث<br>۴ بعث | الْحَاقَّةُ ﴿۱﴾ مَاالْحَاقَّةُ ﴿۲﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحَاقَّةُ ﴿۳﴾<br>فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾ .... | وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً ﴿۱۴﴾ فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿۱۵﴾ وَانْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَاهِيَةٌ ﴿۱۶﴾ وَالْمَلَكُ عَلَى أَرْجَائِهَاوَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ ﴿۱۷﴾.... | يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ﴿۱۸﴾ فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَيَقُولُ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ﴿۱۹﴾ إِنِّي ظَنَنْتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ﴿۲۰﴾ فَهُوَفِي عِيشَةٍرَاضِيَةٍ﴿۲۱﴾فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿۲۲﴾ ... وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَابِيَهْ﴿۲۵﴾وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ﴿۲۶﴾ |
| ۱۷ | مطففين [۸۳] | ۴ بعث | أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ ﴿۴﴾ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿۵﴾ | يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۶﴾ ...... | كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ ﴿۷﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا سِجِّينٌ ﴿۸﴾ كِتَابٌ مَرْقُومٌ ﴿۹﴾ .... كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْأَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ﴿۱۸﴾ |
| ۱۸ | قمر [۵۴] | ۴ بعث | اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ | وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴿۱﴾ .. خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُنْتَشِرٌ ﴿۷﴾ مُهْطِعِينَ إِلَى الدَّاعِ | يَقُولُ الْكَافِرُونَ هَذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴿۸﴾ |
| ۱۹ | معارج [۷۰] | ۴ بعث | ....حَتَّى يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿۴۲﴾ | يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَى نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴿۴۳﴾ | خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ذَلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿۴۴﴾ |
| ۲۰ | طور [۵۲] | ۴ بعث | إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴿۷﴾ مَا لَهُ مِنْ دَافِعٍ ﴿۸﴾ | يَوْمَ تَمُورُ السَّمَاءُ مَوْرًا﴿۹﴾وَتَسِيرُ الْجِبَالُ سَيْرًا﴿۱۰﴾ | فَوَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ﴿۱۱﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي خَوْضٍ يَلْعَبُونَ ﴿۱۲﴾... إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ﴿۱۷﴾فَاكِهِينَ بِمَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَاهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ﴿۱۸﴾ |
| ۲۱ | مزمل [۷۳] | ۴ بعث | | يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَهِيلًا ﴿۱۴﴾ ..... السَّمَاءُ مُنْفَطِرٌ بِهِ كَانَ وَعْدُهُ مَفْعُولًا ﴿۱۸﴾ | |
| ۲۲ | ق [۵۰] | ۵ بعث | وَنُفِخَ فِي الصُّورِ ذَلِكَ يَوْمُ الْوَعِيدِ﴿۲۰﴾ | | وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَعَهَا سَائِقٌ وَشَهِيدٌ ﴿۲۱﴾ لَقَدْ كُنْتَ فِي غَفْلَةٍ مِنْ هَذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴿۲۲﴾ وَقَالَ قَرِينُهُ هَذَا مَا لَدَيَّ عَتِيدٌ ﴿۲۳﴾ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳ | ق [۵۰] | ۵ بعثت | واسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَكَانٍ قَرِيبٍ﴿۴۱﴾ | يَوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ذَلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ﴿۴۲﴾.... يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ذَلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ﴿۴۴﴾ | نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ وَمَا أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ ....﴿۴۵﴾ |
| ۲۴ | يس [۳۶] | ۵ بعثت | وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِنَ الْأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ﴿۵۱﴾ | قَالُوا يَا وَيْلَنَا مَنْ بَعَثَنَا مِنْ مَرْقَدِنَا ... ﴿۵۲﴾ إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَدَيْنَا مُحْضَرُونَ﴿۵۳﴾ | فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۵۲﴾إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فَاكِهُونَ﴿۵۲﴾...وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ﴿۵۹﴾ |
| ۲۵ | مؤمنون [۲۳] | ۵ بعثت | فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ....﴿۱۰۱﴾ | | ...وَلَا يَتَسَاءَلُونَ﴿۱۰۱﴾ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴿۱۰۲﴾وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ خَالِدُونَ﴿۱۰۳﴾ |
| ۲۶ | نباء [۷۸] | ۶ بعثت | | يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا لَا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَنُ وَقَالَ صَوَابًا﴿۳۸﴾ | ...إِنَّا أَنْذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابًا﴿۴۰﴾ |
| ۲۷ | طه [۲۰] | ۷ بعثت | يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا﴿۱۰۲﴾ | وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا ﴿۱۰۵﴾ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿۱۰۶﴾ لَا تَرَى فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا ﴿۱۰۷﴾ | ...يَوْمَئِذٍ لَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا ﴿۱۰۹﴾ .... وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا هَضْمًا ﴿۱۱۲﴾ |
| ۲۸ | کهف [۱۸] | ۷ بعثت | فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ رَبِّي...﴿۹۸﴾ | ...جَعَلَهُ دَكَّاءَ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا ﴿۹۸﴾ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَجَمَعْنَاهُمْ جَمْعًا﴿۹۹﴾ | |
| ۲۹ | نمل [۲۷] | ۸ بعثت | وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَفَزِعَ مَنْ فِي ...﴿۸۷﴾ | وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ...﴿۸۸﴾ | مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِنْهَا وَهُمْ مِنْ فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ آمِنُونَ ﴿۸۹﴾ وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴿۹۰﴾ |
| ۳۰ | کهف [۱۸] | ۱۲ بعثت | | وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْأَرْضَ بَارِزَةً وَحَشَرْنَاهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا ﴿۴۷﴾ وَعُرِضُوا عَلَى رَبِّكَ صَفًّا ....﴿۴۸﴾ | ...فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَذَا الْكِتَابِ ... وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴿۴۹﴾ |
| ۳۱ | انعام [۶] | ۶ هـ | ...وَيَوْمَ يَقُولُ كُنْ فَيَكُونُ قَوْلُهُ الْحَقُّ... | ... وَلَهُ الْمُلْكُ .... ﴿۷۳﴾ | ...عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ﴿۷۳﴾ |
| ۳۲ | زمر [۳۹] | ۱۲ هـ | وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ...﴿۶۸﴾ | ...إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ﴿۶۸﴾ وَأَشْرَقَتِ الْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا ... ﴿۶۹﴾ | ... وَوُضِعَ الْكِتَابُ وَجِيءَ بِالنَّبِيِّينَ وَالشُّهَدَاءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴿۶۹﴾ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَا عَمِلَتْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُونَ﴿۷۰﴾ وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا...﴿۷۱﴾ |

## د پېښو نومونه:

لکه څنګه چې وويل شول د «قارعه» نوم د هاغې پېښې د سختې ټکوني له لامله پر دې سورت اېښوول شوی دی، چې غرونه لکه د وريښل شوو او ډانډس شوو، وړيو په څېر په هوا کې شيندي او خپروي. کوم جدول مو چې وکوت، لومړنۍ ولاړه ليکه يې نور ډول ډول نومونه نغاړي چې هر يو يې د ځانګړې لامله پر هاغه پېښه اېښوول شوی دی له هغې ډلې:

حاقه: (د حق او حتمي والي او ثابتوالي له لامله) الْحَاقَّةُ﴿۱﴾ مَا الْحَاقَّةُ﴿۲﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحَاقَّةُ﴿۳﴾

قارعه: ( د فشار او ټکووني له لامله) الْقَارِعَةُ﴿۱﴾ مَا الْقَارِعَةُ﴿۲﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ﴿۳﴾

دا کليمه په قرآن کې ۵ ځله کارول شوې ده چې درې مورده يې په قارعه سورت کې او نور دوه مورده يې د حاقه (کذبت ثمود و عاد بالقارعه) او رعد (ولا يزال الذين کفروا تصيبهم بما صنعوا قارعة ــ ۳۱ آيت) په سورتونو کې دي. ګواکې په پورته ذکر شوو سورتونو کې له قارعه څخه موخه سخت ټکوونکی عذاب او مصيبت دی چې د کفر له لامله نازليږي.

غاشيه: (د هغه د چاپېروالي او نغاړنې له لامله) هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ﴿۱﴾ [غاشيه ۱ (۸۸:۱)]
قيامة: (د ولاړېدو او بيا ژوندي کېدو له لامله) يَسْأَلُ أَيَّانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ﴿۶﴾ [قيامة ۶(۷۵:۶)] په قرآن کې ۷۰ ځله «يوم القيامة» کارول شوې ده.
آخرت: (له دنيا وروسته د بيا راتلو له لامله) په قرآن کې، آخرت، ۱۱۵ ځله کارول شوی دی.
يوم الوعيد: (د هغې ورځې په اړه د ورکړل شوې ژمنې له لامله)...ذَلِكَ يَوْمُ الْوَعِيدِ﴿۲۰﴾ [ق۲۰(۵۰:۲۰)]...حَتَّى يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿۴۲﴾ [معارج ۴۲ (۷۰:۴۲)]
صاخه:(د هغې د غوږ کڼوونکي غږ له لامله) فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ﴿۳۳﴾. يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿۳۴﴾ [عبس ۳۳ (۸۰:۳۳) او ۳۴].
يوم البعث: (د پاڅونې او ښورونې له لامله) په قرآن کې ۳۴ ځله د مړو له بعثه نوم اخېستل شوی دی.
طامه:(د هغه د قهرجن برترې، برلاسي، او تيرې له لامله) فَإِذَا جَاءَتِ الطَّامَّةُ الْكُبْرَى ﴿۳۴﴾ [نازعات۳۴ (۷۹:۳۴)]

په ټوليزه توګه د ليد د زاويې پر بنسټ راز راز نومونه پر دې پېښه اېښوول شوي دي چې ځينې له هغوی پر لاندې ډول دي :
يوم الحساب، يوم الدين، يوم التغابن، يوم الازفه، يوم يحشرهم، يوم الخروج، يوم الجمع، يوم کبير، يوم الوقت المعلوم، يوم التلاق، يوم الفصل، يوم مشهود، يوم ينفخ فی الصور، يوم عظيم، يوم الموعود، يوم يقوم الساعة و ....

دا پېښه په شپېلۍ کې له پوکې سره (يوم ينفخ فی الصور) چې له تصور پورته کڼوونکی زوږ لري او د صيحه، زجره، صاخّه او ... له کليمو سره ستايل شوی دی، پيل کيږي. له ړومبني غږ سره لومړی ټول ژوندي مګر هاغه چې الله غوښتي وي، مړه کيږي او له ورپسې غږ سره قيامت پيل کيږي:

«وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ» [زمر ۶۸(۳۹:۶۸)] او [ د قيامت د پېښېدو پر مهال] په "شپېلۍ" کې، پوکی وشي، نو بې سده به شي [او ساه به ورکړي] هر څوک چې په آسمانونو کې [له پرښتو] او هر څوک چې په ځمکه کې دي، مګر هغوی چې الله يې وغواړي، ورپسې بل ځل چې پکې پوکی وشي، نو هاغه مهال به ټول [خپل سرليک ته] سترګې پر لار راپاڅيږي.

### د آسمان او ځمکې نهايي يُون:

د مل جدول دويمه ولاړه ليکه (د آياتونو په برخه کې)، هاغه بدلونونه چې په دنيايي آسمان او ځمکه کې او يا په ټوليزه توګه موږ ته د ليد وړ جهان کې، له لمريزې منظومې څخه تر کهکشانه رامخته کېږي، بيانوي. لکه څنګه چې مخکې مو د نجم او زلزال سورتونو په شرح او توضيح کې هاغه وضعيت چې په آسمان او ځمکه، غرونو او سيندونو، سپوږمۍ او لمر او ستورو کې پېښيږي، په لنډيزه بڼه فهرست کړل، اړتيا نشته چې بيا ځلې دا چار وکړو، ځيرونکي لوستونکي کولی شي د اړتيا په صورت کې اړوندو سورتونو ته مراجعه وکړي، دلته په ځانګړي توګه هاغو نکتو ته پاملرنه کوو چې مخکې مو ترې يادونه نه ده کړې له دې حالت سره د اشارې په توګه له هاغو مهمو بدلونونو څخه چې په آسماني او د ځمکې په ښکارندو کې پېښيږي يادونه کوو:

**ځمکه**

اذا الارض مدّت (د ځمکې پرسېدل او غځېدل)، و القت ما فيها و تخلت (د دننيو درندو توکو بيرون ته غوځول)، اذا رجّت الارض رجّا (ډېره سخته لړزېدنه)، اذا زلزلت الارض زلزالها، اذا دکّت الارض دکّا دکّا (ټکېدل او بړاس کېدل)، و حملت الارض والجبال فدکّتا دکة واحدة، يوم ترجف الارض و ....( ډېره سخته لړزېدنه) و ترى الارض بارزه ( د ځمکې د سطحې صافېدل او ښکاره کېدل )، فيذرها قاعاً صفصفا، لا ترى فيها عوجا ولا امتاً (د ځمکې صاف او همواريدل پرته له دې چې په سطح کې يې هيڅ ډول اختلاف وي)، اشرقت الارض بنور ربها

**غرونه**

اذا الجبال سيرت، يوم نسير الجبال، و تسيّر الجبال سيرا، ( د غرونو رهي کېدل او يُون) - و ترى الجبال تحسبها جامدة و هى تمر مرّ السحاب ... ( د وربځو په څېر د غرونو حرکت) تکون الجبال کالعهن، و تکون الجبال کالعهن المنفوش (د وريښل شوو وړيو په څېر د غرونو خپريدل)، و اذا الجبال نسفت، يسئلونک عن الجبال فقل ينسفهاربى نسفا فيذرها قاعاً صفصفا لا ترى فيها عوجاً و لا امتا (د غرونو له بېخه راوتل او د ځمکې صافېدل).
و بسّت الجبال فکانت هباء منبثا (د غرونو ټکېدل او نرمېدل لکه د هوا دغبار په څېر)
و حملت الارض والجبال فدکتا دکة واحدة، جعله دکّاء و کان وعد ربى حقاً (له خپله ځايه رابېلېدل او هوا ته تلل او ټکېدل او نرمېدل) يوم ترجف الارض والجبال و کانت الجبال کثيبا مهيلا. (شديد حرکت او د ذراتو توپيدل يې لکه د ښوئيدونکي غونډۍ په څېر)

**سپوږمۍ**

اقتربت الساعة وانشق القمر و جمع الشمس والقمر (د سپوږمۍ دوه نيمايي کېدل، په اووښتي او بدل شوي لمر کې د هغې ننوتل)

**لمر**

اذا الشمس کورت، جمع الشمس والقمر.

آسمان | اذا السماء انفطرت، يوم تکون السماء کالمهمل، و اذا السماء فرجت، و فتحت السماء فکانت ابواباً، اذا السماء انشقت، و انشقت السماء فهى يومئذ واهيه ـ يوم تمور السماء مورا، السماء منفطربه، اذا السماء کشطت، يوم تشقق السماء بالغمام، يوم نطوى السماء

ستوري | اذا الکواکب انتثرت، اذا النجوم انکدرت، فاذا النجوم طمست

بحرونه | اذا البحار سجرت، اذا البحار سجرت، والبحر المسجور

## د قيامت په پېښنو کې د پرښتو نقش:

فجر(۸۹:۲۱): كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا﴿۲۱﴾ وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿۲۲﴾

حاقه(۶۹:۱۳): فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ﴿۱۳﴾ وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً ﴿۱۴﴾فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ﴿۱۵﴾ وَانْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَاهِيَةٌ ﴿۱۶﴾ وَالْمَلَكُ عَلَى أَرْجَائِهَا وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ﴿۱۷﴾

نبأ (۷۸:۳۸): عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ ﴿۱﴾ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ﴿۲﴾ ...يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا لَا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَنُ ... ﴿۳۸﴾

فرقان(۲۵:۲۵): وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَاءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ الْمَلَائِكَةُ تَنْزِيلًا﴿۲۵﴾ الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ لِلرَّحْمَنِ.﴿۲۶﴾

معارج(۷۰:۴): تَعْرُجُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ﴿۴﴾ يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ ﴿۸﴾ وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ﴿۹﴾

زمر(۳۹:۷۵): وَتَرَى الْمَلَائِكَةَ حَافِّينَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيلَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴿۷۵﴾

## له قبرونو راپاڅېدل (خروج، حشر):

قارعه(۱۰۱:۹): يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ ﴿۹﴾

زلزال(۹۹:۶) : يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ﴿۶﴾

معارج (۷۰:۴۳): يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَى نُصُبٍ يُوفِضُونَ﴿۴۳﴾

قمر (۵۴:۶) فَتَوَلَّ عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلَى شَيْءٍ نُكُرٍ﴿۶﴾ خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُنْتَشِرٌ﴿۷﴾ مُهْطِعِينَ إِلَى الدَّاعِ يَقُولُ الْكَافِرُونَ هَذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴿۸﴾

نبأ (۷۸:۱۸): يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا﴿۱۸﴾

نازعات(۷۹:۶)تر۱۴: يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ﴿۶﴾ تَتْبَعُهَاالرَّادِفَةُ﴿۷﴾ ...فَإِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ﴿۱۴﴾

ق (۵۰:۴۲) تر۴۴: يَوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ذَلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ﴿۴۲﴾ إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا الْمَصِيرُ﴿۴۳﴾ يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ذَلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿۴۴﴾

يس (۳۶:۵۱): وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِنَ الْأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ﴿۵۱﴾ قَالُوا يَا وَيْلَنَا مَنْ بَعَثَنَا مِنْ مَرْقَدِنَا...﴿۵۲﴾ إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿۵۳﴾

| | |
|---|---|
| کهف (۱۸:۴۷): | وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْأَرْضَ بَارِزَةً وَحَشَرْنَاهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا﴿۴۷﴾ وَعُرِضُوا عَلَى رَبِّكَ صَفًّا...﴿۴۸﴾ |
| کهف(۱۸: ۹۸): | ...فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُ دَكَّاءَ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا﴿۹۸﴾ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَجَمَعْنَاهُمْ جَمْعًا﴿۹۹﴾ |
| زمر (۳۹:۶۸): | ....ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ﴿۶۸﴾ |
| انفطار (۸۲:۴): | وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ﴿۴﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ﴿۵﴾ |
| عاديات (۱۰۰:۹): | أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ﴿۵﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ﴿۵﴾ |
| حج (۲۲:۷): | وَأَنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ لَا رَيْبَ فِيهَا وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُورِ﴿۷﴾ |

د موجوداتو عمومي مرګ او د هغوی بیا ځلي ژوندي کېدل، په شپیلۍ کې د پوکي په توسه:

| | |
|---|---|
| نمل ۸۷ (۲۷:۸۷) تر ۹۰: | وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَفَزِعَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَاخِرِينَ﴿۸۷﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ﴿۸۸﴾ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِنْهَا وَهُمْ مِنْ فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ آمِنُونَ ﴿۸۹﴾ وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۹۰﴾ |
| زمر ۶۷ (۳۹:۶۷) تر ۶۹: | وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۶۷﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ ﴿۶۸﴾ وَأَشْرَقَتِ الْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتَابُ وَجِيءَ بِالنَّبِيِّينَ وَالشُّهَدَاءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿۶۹﴾ |
| يس (۳۶:۵۱) تر ۵۳ : | وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِنَ الْأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ﴿۵۱﴾ قَالُوا يَا وَيْلَنَا مَنْ بَعَثَنَا مِنْ مَرْقَدِنَا هَذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُونَ﴿۵۲﴾ إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَدَيْنَا مُحْضَرُونَ﴿۵۳﴾ |
| ق (۵۰:۲۰)او ۲۲: | وَنُفِخَ فِي الصُّورِ ذَلِكَ يَوْمُ الْوَعِيدِ﴿۲۱﴾ وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَعَهَا سَائِقٌ وَشَهِيدٌ﴿۲۲﴾ |
| طه (۲۰:۱۰۲): | يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا﴿۱۰۲﴾ |

د جدول وروستنۍ ولاړه ليکه، د انسانانو سرليک د هغوی د کړنو لـه مخې څرګندوي. دا برخه چې لـه مخکينۍ برخې بشپړتره ده، د هغې پايله او اصلي برخه هم ګڼل کېږي. اصولاً هاغه اشارې چې په قرآن کې، د قيامت په درشل کې کيهاني تحولاتو او د آسمان او ځمکې په نظام کې بنسټيزو بدلونونو ته شوي دي د همدې لپاره دي چې د هاغه طبيعت لـه پاي چې پرې روږدی دی، د هغه په خپل سرانجام يې آګاه او پوه کړي. د قيامت د مسئلې د تبيين او تفهيم لپاره د قرآن سبک په ښوليزه توګه لـه هاغو طريقو سره توپير لري، چې پر ذهني استدلال او مجرد عقلي منطق ټيکاو دي. قرآن ددې موضوع د اثبات لپاره کلامي او فلسفي دليلونه د لاسوندي په توګه نه نيسي، د فقهي او اصولو پر بنسټ استدلال نه کوي، لـه څرګند، برېښنده مشهود طبيعت او لـه محسوس آسمان او لـه ځمکې څخه شاهد راوړي او په ګوته کوي چې ستري او عظيمې

ښکارندې لکه ځمکه، آسمان، ستوري او کهکشانونه سره ددې چې تلپاتي، ابدي او ثابت بريښي، په حقيقت کې محدود او لږ عمر لري او په پای کې خپل اړين اجل ته رسيږي، چې له بدلونونو، او د لاندې باندې کوونکو فعلونو او انفعالاتو سره مل دي، او په هاغې ورځ چې ټول ځيزونه بل منګ کيږي او تحول او بدلون مومي، د انسان قيامت، چې له ستر طبيعت څخه يوه کوچنۍ برخه ده، رارسيږي. او دنيايي اعمال او مکتسبات يې تحقق مومي.

د وربښمو د چنجي ژوند ددې مسئلې لپاره يو مناسب مثال دی. د وربښمو چنجی د توت د ونې له پاڼو څخه له څو اوونيو تغذيې وروسته، کله چې د خپل طبيعي قدر او وړتيا تحقق ته ورسيږي، خپل پړاويز اجل ته نژدې کيږي او په پای کې د وچ شوي او بې حرکت جسد په بڼه په هاغه پوسته او پيله کې چې د قبر په توګه يې له خپله ځانه راتاو کړی دی له خپلې پخوانۍ دنيا څخه بيليږي او خپل اوږد خوب ته ځي. ددغې پړاو د پروانې (پتنګ)[پرپره کې] ستروالی او الوت او ژوند او حرکت او د هګيو اچولو موده او عمر يې، د چنجي توب (لاروا) په پړاو کې د تغذيې له کيفيت او کميت سره نيغ په نيغه اړيکه لري. هر څومره يې چې په هاغه پړاو کې سلامتر ژوند کړی وي د پروانګۍ او الوت په پړاو کې به سلامتر وي.

نو پر دې بنا که په قرآن کې د قيامت په درشل کې د ځمکې او آسمان له پاياني تحولاتو او بدلونونو بېلګه او مثال راوړي، موخه يې دا نه ده چې د ځمکپوهنې او ستورپوهنې ښوونه وکړي او نه يې د استعارې او تمثيل په ژبه ځمکه او آسمان د نورو مسئلو د بيان لپاره وسيله او بهانه ګرځولې ده، بلکې د دغو سترو بدلونونو بيانول، هاغه ستر او نغاړونکي انقلاب ته د انسانانو د پام اړونې او متوجه کولو لپاره دي، چې د هغه د آثارو او عوارضو له اغېزه د انسان قيامت رارسيږي او ټولې پټې او ښکاره کړنې، اخېستنې، بيانونه او پانګونې يې رابرسېره کيږي او برېښنده حالت غوره کوي. پر دې ترتيب ددې پر ځای چې قيامت په کلامي طريقه، مثلاً د خدای تعالی له «عادل» والي څخه د نتيجې اخېستلو له طريقه يې اثبات کړي!، انسان طبيعي «آيتونو» او نښو ته متوجه کوي او له ذهني مجرداتو او فلسفي او کلامي اوبدلو او بڼلو څخه اخوا، له مشاهدې او تجربې څخه حاصل شوي «علم» ته لارښوونه کوي.

له بده مرغه نور ټول هاغه کسان چې له مادي جهان او علم څخه سمه انګېرنه، او د هغه د نهايي تحولاتو او بدلونونو په اړه بشپړه او کافي اطلاع نه لري، کله چې له دا ډول آيتونو سره مخامخ کيږي هڅه کوي د قيامت مسئله او په هغه پورې اړوندې ژمنه کړل شوې نښې له عوام فهمو بشري وهمونو، انګېرزو، خيالونو او ذهنيتونو سره چې په ظاهره عرفاني بريښي، توجيه کړي او په خپل ميل او تشخيص يو مفهوم او منظور ورته وتوري، سره لدې چې په ځينو موردونو کې په تصادفي توګه ځينې توجيه ګانې چې په ظاهري توګه له آيتونو سره سمون خوري عنوان کوي، خو کوم مهال چې همهاغې توجيه ته له ورته آيتونو سره مقابله ورکړو، د هغوی په برېښنده او څرګند تناقض او توپير پوهيږو. اصولاً دا راز توجيه ګانې، سره له دې چې د نيک نيت او هدايت په موخه هم وي، له کومې چې خپل بڼلې او پر ذهني مجرداتو او بيلښتونو متکي دي نو بې

لارې کـوونکي دي، لـه بـارزو او لـواړو ثبوتونـو او تصـديق کوونکـو لاسـوندونو څخـه د آيتونـو د معنـاو د ببڅايـه، ځـاى پـر ځـاى کولـو لـه لاملـه «د آيتونـو» تحريف ګڼل کېږي. داسې نـه بريښـي چې د قيامـت پـه چـارو پـورې اړونـد د سـختو آيتونـو د پوهېـدو لپـاره، پخپلـه قـرآن [نـه خپـل ځـان] تـه لـه مراجعې او د آيت پـه آيـت د تفسير لـه طريقې او د علـم لـه څـراغ پرتـه بلـه لار شتون ولـري. د خـداى او قيامـت پـه اړه د شـناخت او پېژنـدنې ډګـر چـې، د بشـري علمـي او ذهنـي لاسـته راوړنـو څخـه اوچـت دى، د الهـي کتـاب لـه مرسـتې او امـداد پرتـه، هـر ډول فلسـفي او عرفـاني او اشـراقي او احساسي او .. توجيـه او تفسير د شـرک او انحـراف خطـر پـه کمين او پټنځـاى کـې ورتـه شـتون لـري او بايـد لـه هغـوى حـذر او ځـان ژغورنـه وشـي. لکـه څنګـه چـې توحيـد لـه بشـري توجيهـاتو سـره پـه شرک ککړيږي، بايد مراقب اوسو او پاملرنه وکړو چې قيامت د احساساتو له سترګې چوکاټ نه کړو!

دهمدې ولاړې ليکې په آيتونو کې څو بنسټيز مطلبونه چې په لاندې توګه ورته اشاره کيږي تر څېنګار لاندې نېول شوي دي:

## ١ ـ د کړنو او عملونو د حساب او کتاب درلودل:

إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا﴿٢٧﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا﴿٢٩﴾[نبأ ٢٧ (٧٨: ٢٧ )او ٢٩]. فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ ﴿٧﴾ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا﴿٨﴾[انشقاق٧(٨۴:٧)او٨]. إِنِّي ظَنَنْتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ﴿٢٠﴾...وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ﴿٢٦﴾. [حاقه ٢٠ (۶٩:٢٠ )او٢۶]... يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً ... ﴿۴٩﴾ [کهف ۴٩ (١٨:۴٩)]. وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَاتِبِينَ﴿١١﴾ [انفطار١٠ (٨٢:١٠) او١١] .

## ٢ ـ د آخرت لپاره د کړنو وړاندې کول:

يُنَبَّأُ الْإِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾.[قيامة ١٣ (٧۵:١٣)] ...يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ...﴿۴٠﴾[نبـاء۴٠ (٧٨:۴٠)]. عَلِمَتْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴿۵﴾[انفطار ۵ (٨٢:۵)].عَلِمَتْ نَفْسٌ مَا أَحْضَرَتْ ﴿١۴﴾ [تكـوير١۴ (٨١:١۴)]...وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا...﴿۴٩﴾ [کهـف۴٩ (١٨:۴٩)]. يَقُولُ يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي ﴿٨٩﴾ [فجر ٢۴ (٨٩:٢۴)].

## ٣ ـ د خپلو هڅو او تلاش په پايله کې د انسان آګاه کېدل:

يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ مَا سَعَى﴿٣۵﴾[نازعـات٣۵ (٧٩:٣۵)]...يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَى﴿٢٣﴾ [فجر٢٣ (٨٩:٢٣)]. لِسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ﴿٩﴾ [ غاشيه٩ (٨٨:٩)].

## ۴ ـ د کړنو او اعمالو ننداره:

يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ﴿۶﴾ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴿٧﴾ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴿٨﴾ [زلـزال۶ (٩٩:۶) ۶ تـر ٨]...يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ...﴿۴٠﴾[نبـاء۴٠ (٧٨:۴٠)]. وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَنْ يَرَى ﴿٣۶﴾ [ نازعـات٣۶ (٧٩:٣۶)]. لَقَدْ كُنْتَ فِي غَفْلَةٍ مِنْ هَذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴿٢٢﴾[ق ٢٢ (۵٠:٢٢)]. يُبَصَّرُونَهُمْ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ﴿١١﴾ [معارج ١١ (٧٠:١١)] . بَلِ الْإِنْسَانُ عَلَى نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ ﴿١۴﴾.[قيامة ١۴ (٧۵:١۴)].

### ۵ ـ عادلانه جزا

...هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴿٩٠﴾ [نمل ۹۰ ( ۲۷:۹۰ )]

وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾ [ طه ۱۱۲ (۲۰:۱۱۲)]

فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٤﴾ [ یس ۵۴ (۳۶:۵۴ )]

وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴿٦٩﴾ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَا عَمِلَتْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُونَ﴿٧٠﴾ [زمر۶۹(۳۹:۶۹) او۷۰]

وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴿٤٩﴾ [کهف ۴۹(۱۸:۴۹)] .

### ۶ ـ د کړنو او عملونو پر بنسټ د انسانانو تفکیک او بېلونه:

پر دې چې د انسانانو سرلیک به د هغوی د کړنو او لاسته راوړنو پر حساب او ګڼون توپیر ولري، بې شمېره آیتونه دلالت کوي. له هغې ډلې د جاثیه سورت ۲۱ آیت « أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ..»[ جاثیه۲۱ (۴۵:۲۱)] او د قلم سورت ۳۶ آیت « أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ »[ قلم ۳۵ ( ۶۸:۳۵ ) او ۳۶ ] دي چې په څرګنده توګه دا توپیر په ګوته کوي. په قیامت کې به له الهي فرمان سره مجرمین له متقیانو بېل شي «وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ»[یس ۵۹ (۳۶:۵۹)] او هر یو به د خپل سرلیک پر لور رهي شي. لاندیني آیتونه دا دوه ګونیتوب له راز راز عنوانونو او عبارتونو سره په ګوته کوي:

وجوه یومئذ خاشعه و وجوه یومئذ ناعمه [غاشیه ۲ او ۸]

وجوه یومئذ مسفره و وجوه یومئذ علیها غبره [عبس ۳۸ او ۴۰]

ان الابرار لفی نعیم و ان الفجار لفی جحیم انفطار ۱۳ او ۱۴

من اوتی کتابه بیمینه من اوتی کتابه بشماله [حاقه ۱۹ او ۲۵]

من اوتی کتابه بیمینه.. من اوتی کتابه وراء ظهره [ انشقاق ۷ او ۱۰]

فمن یعمل مثقال ذرة خیرا یره. و من یعمل مثقال ذرة شرا یره [ زلزال ۷ او ۸ ]

طاغین متقین [ نباء ۲۲ او ۳۱ ]

من جاء بالحسنه من جاء بالسیئه [نمل ۸۹ او ۹۰ ]

عاملة ناصبه لسعیها راضیه [غاشیه ۳ او ۹ ]

مکذبین متقین [طور ۱۱ او ۱۷]

اصحاب المیمنه اصحاب المشئمه ۱۰ـ واقعه ۸ او ۹

فمن ثقلت موازینه و من خفت موازینه [قارعه ۷ او ۸]

من طغی و اثرالحیوةالدنیا من خاف مقام ربه و نهی النفس [ نازعات ۳۷ او ۲۰ ]

فاولئک هم المفلحون فاولئک الذین خسروا انفسهم [مؤمنون ۱۰۲ او ۱۰۳]

د خبرې او مضوع په پای کې، د پالونکي ښبنتن درشل ته مخه کوو او هغه ته د خپلو کړنو له شره پناه وروړو او ترې غوښتنه کوو چې موږ ته توفیق راکړي، په دې موده کې چې د ژوندانه دوسیه مو لا پرانېستې ده او عمر او ساه لا را پاتې ده او ددې وخت او فرصت لرو چې د خپل آخرت لپاره یو کار وکړو او له مخکې یې ولېږو، چې که له جهانه لاړو، بیا به نو ورته د ستنېدو لار او د زیان شوو د جبران وخت و نه مومو. تر څو چې په دې جهان کې یو، انشاء الله چې وکولی شو خپلې نېکې کړنې ډېرې کړو چې په هاغې ورځ کې زموږ د خیر کړنو پله پر بلې درنه او زموږ ابدي او تلپاتې سرلیک انشاء الله نېکمرغی، سمسورتیا، سعادت او رستګاری ته نژدې وي. صدق الله العليّ العظیم.















«يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ» [معارج۸(۷۰:۸)]. هاغه ورځ چې ستاسو د سر له پاسه آسمان لکه د مسو په رنګ ویلي شي. یعنې قهوه ای رنګ ته مایل سور رنګ ته واوړي.

-[*مل انځور-۱]-

**يادونه:** ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:

۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان لېکنه
۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضى مطهري ليکنه
۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب لېکنه
۴ ـ تفهيم القرآن ـ د سيد ابوالاعلى مودودي ليکنه
۵ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرګان
۶ ـ الميزان في تفسيرالقرآن ـ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه
۷ ـ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ـ مولانا محمود الحسن ديوبندي
او علامه شبير احمد عثماني] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله
۸ ـ پرتوی از قرآن ـ د سيد محمود طالقاني ليکنه
۹ ـ تفسير نمونه ـ د آيت الله مکارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي ليکنه
۱۰ ـ تفسير نور ـ د مصطفى خرمدل ليکنه
۱۱ ـ تابشي از قرآن ـ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي ليکنه
۱۲ ـ تفسير باران ـ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه
۱۲ ـ ترجمه تفسير طبري ـ به اهتمام و تصحيح حبيب يغمائی
۱۳ ـ تفسير ابن کثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي]
اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي
۱۴ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه
۱۵ ـ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ـ ليکونکي : جلال الدين محلي او
جلال الدين سيوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي
۱۶ ـ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی
۱۷ ـ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قيام الدين کشاف
۱۸ ـ عزيزالتفاسير ـ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ـ مولوي سلطان عزيز (عزيز)
۱۹ ـ صفوةالتفاسير ـ د محمدعلي الصابوني ليکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
۲۰ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدين حکمتيار لېکنه
۲۱ ـ تفسير ديوبندي ـ د مولوي عبدالحنان لېکنه
۲۲ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امين الله پېښاوری لېکنه
۲۳ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لېکنه
۲۴ ـ تفسير احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي لېکنه

۲۵ ـ قرآن کریم په پښتو ـ د اجرالدین اقبال ژباړه
۲۶ـ شرحې بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرګان ـ د عبدالعلي بازرګان ویب پاڼه [bazargan.com]
۲۷ ـ تفسیر روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صدیقي.
۲۸ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز
۲۹ ـ روح المعاني فی تفسیرالقرآن العظیم والسبع المثانی ـ العلامه ابی الفضل شهاب الدین محمود الالوسی البغدادي
۳۰ ـ تفسیر جواهرالقرآن ـ مولانا حسین علي
۳۱ ـ تفسیر روح البیان ـ شیخ اسماعیل حقی البروسوی
۳۲ ـ د «سیر تحول قرآن کتاب دویم ټوک» ـ د مهندس محمد مهدی «بازرګان» لیکنه